**د متحده ایالاتو د ولسوالۍ په محکمه کې**
**د کولمبیا د ولسوالۍ لپاره**

چارلس (CHARLES) او ماري ان ستړینج
(MARY ANN STRANGE) له طرفه د میکایل ستړینج
(MICHAEL STRANGE) ، د دوی ځوي او میرنی ځوي،*

او

ډوګلس (DOUGLAS) او شان همبرګر(SHAUNE HAMBURGER)
له طرفه د پیټرک همبرګر(PATRICK HAMBURGER) ، د دوی ځوي او
میرنی ځوي،*

او

پهوتاسیت ډوانګدارا (PHOUTHASITH DOUANGDARA) له طرفه د
جان ډوانګدارا(JOHN DOUANGDARA) د هغه ځوي،*

مدعیان،

په خلاف د

د ایران اسلامي جمهوریت،
انټرسټ سیکشن
2209 Wisconsin Avenue, N.W.
Washington, D.C. 20007

او

محمود احمدي نژاد،
د ایران پخوانی ولسمشر
تهران، ایران 13168-43311

او

ایت الله سید علي حسیني خامنه اي،
د ایران عالي رهبر
انټرسټ سیکشن
2209 Wisconsin Avenue, N.W.
Washington, D.C. 20007

او

د اسلامي انقلاب
د ساتونکو پوځ،
انټرسټ سیکشن

**شکایت**

2209 Wisconsin Avenue, N.W.
Washington, D.C. 20007

او

حامد کرزی،
د افغانستان د اسلامي جمهوریت د سفارت په معرفت
2233 Wisconsin Avenue, N.W.
Suite 216
Washington, D.C. 20007

او

د افغانستان د عملیاتي همکارئ ډله،
افغانستان

او

خاصه عملیاتي قطعه/قطعه خاصه عملیاتي، د افغانستان د ځانګړو عملیاتو یونټ،
افغانستان

او

د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه،
افغانستان

او

د افغانستان اسلامي جمهوریت،
د افغانستان د اسلامي جمهوریت د سفارت په معرفت
2233 Wisconsin Avenue, N.W.
Suite 216
Washington, D.C. 20007

او

طالبان،
کندهار، افغانستان،

او

القاعده، چې د اسلامي پوځ په نوم هم پیژندل کیږي،
افغانستان

مدافعان.

*ادرسونه په امنيتي دلايلو نه دي ورکړل شوي

## شکايت

مدعيان، چارلس (Charles) او ماري ان سټرينج (Mary Ann Strange)، ډوګلس (Douglas) او شان همبرګر (Shaune Hamburger) ، او پهوتاسيت ډوانګدارا (Phouthasith Douangdara)، له طرفه او په مشوره د خپلو ځانونو او خپلو ځامنو او ميرني ځامنو، ("مرحومين")، له دې لارې دعوه کوي د ايران په اسلامي جمهوريت ("ايران")، په محمود احمدي نژاد ("احمدي نژاد")، ايت الله سيد علی حسيني خامنه اي ("خامنه اي")، د اسلامي انقلاب د ساتونکو پوځ ("IRGC") ، حامد کرزي ("کرزی")، د افغانستان د عملياتي همکاری په ډله ("OCG")، خاصه عملياتي قطعه/قطعه خاص عملياتي يا د افغانستان د ځانګړو عملياتو يونټ ("ASOU")، د افغانستان په ملي امنيتي ځواکونو ("ANSF")، د افغانستان په اسلامي جمهوريت ("افغانستان)، طالبانو ("طالبان")، او القاعده ("القاعده")، دې افرادو او بهرنيو رياستونو د هغوی په رسمي او غير رسمي ظرفيتونو کې، د مدعيانو او مرحومينو د حقوقو د خلاف ورزی لپاره، په غير قانوني طريقه پيسو ګټلو او نورو ممنوعه فعاليتونو کې د ګډون لپاره، په نړيوال تروريزم کې د ګډون لپاره، تروريستانو ته د ځای ورکولو او د هغوی د پټولو لپاره، تروريستانو او تروريستي ډلو ته د مالي مرستو برابرولو لپاره، او نيغ په نيغه او بلاواسطه د مدعيانو د مرحومينو د مرګ د باعثيدو لپاره، د هغې سختې عاطفي پريشانی، عاطفي درد او تکليف، او د ټولنې، ګټو، ملګرتيا، ارام، تحفظ، پاملرنې، توجه، مشورې، مشورت يا لارښوونې د لاسه ورکولو په خاطر چې مدعيان، د خپل او خپلو ځامنو، د مدعيانو د مرحومينو، له طرفه، ورسره مخ شوي دي او په راتلونکي کې به ورسره مخ کيږي. له دې امله په همدې بنيادونو، مدعيان، د خپل ځان او خپلو ځامنو، د مدعيانو د مرحومينو، له طرفه لاندې تور لګوي:

## تمهيد

1. دا له 2333 §§ .18 U.S.C، 2339 او 2339A (تروريزم سره اړوند فعالیتونه) څخه د سرغړاوي عمل دی.

2. دا له .18 U.S.C. § 1961 *et seq* (د ناقانونه پیسو ګټلو او مفسد سازمانونو قانون) څخه د سرغړاوي عمل دی.

3. دا یو د برید او دړکو، په ارادي توګه د عاطفي پریشانی د رسولو، غلط مرګ، غفلت او سختې لاپرواهی عمل دی.

## قلمرو او موقعیت

4. د مدافع ایران لپاره دا محکمه د 18 U.S.C. § 2333(a)؛ 28 U.S.C. § 1330(a)، 28 U.S.C. § 1331 او 28 U.S.C. § 1332؛ او 28 U.S.C. § 1605(a)(1) او 28 U.S.C. § 1605A په تعقیب شخصي قانوني اختیار او د مضمون د معاملي قانوني اختیار لري. موقعیت د مدافع ایران لپاره د 28 U.S.C. § 1391(f)(4) په تعقیب درست دی.

5. د مدافع احمدي نژاد لپاره دا محکمه د 18 U.S.C. § 2333(a)؛ 28 U.S.C. § 1330(a)، 28 U.S.C. § 1331او 28 U.S.C. § 1332؛ او 28 U.S.C. § 1605(a)(1) او 28 U.S.C. § 1605A په تعقیب شخصي قانوني اختیار او د مضمون د معاملي قانوني اختیار لري. موقعیت د مدافع احمدي نژاد لپاره د 28 U.S.C. § 1391(d)او 28 U.S.C. § 1391(f)(4) په تعقیب درست دی.

6. د مدافع خامنه اي لپاره دا محکمه د 18 U.S.C. § 2333(a)؛ 28 U.S.C. § 1330(a)، 28 U.S.C. § 1331 او 28 U.S.C. § 1332؛ او 28 U.S.C. § 1605(a)(1) او 28 U.S.C. § 1605A په تعقیب شخصي قانوني اختیار او د مضمون د معاملي قانوني اختیار لري. موقعیت د مدافع خامنه اي لپاره د 28 U.S.C. § 1391(d) او 28 U.S.C. § 1391(f)(4) په تعقیب درست دی.

7. د مدافع IRGC لپاره دا محکمه د 18 U.S.C. § 2333(a)؛ او 28 U.S.C. § 1330(a)، 28 U.S.C. § 1331 او 28 U.S.C. § 1332؛ او 28 U.S.C. § 1605(a)(1) او 28 U.S.C. § 1605A په تعقیب شخصي قانوني اختیار او د مضمون د معاملي قانوني اختیار لري. موقعیت د مدافع IRGC لپاره د 28 U.S.C. § 1391(f)(4) په تعقیب درست دی.

8. د مدافع کرزي لپاره دا محکمه د 18 U.S.C. § 1961 *et seq.*، 18 U.S.C. § 2333(a)؛ 28 U.S.C. § 1331او 28 U.S.C. § 1332؛ او 28 U.S.C. § 1605(a)(1) په تعقیب شخصي قانوني اختیار او د مضمون د معاملي قانوني اختیار لري. موقعیت د مدافع کرزي لپاره د 28 U.S.C. § 1391(d) او 28 U.S.C. § 1391(f)(4) په تعقیب درست دی.

9. د مدافع OCG لپاره دا محکمه د 18 U.S.C. § 1961 *et seq.*، 18 U.S.C. § 2333(a)؛ 28 U.S.C. § 1330او 28 U.S.C. § 1331؛ او 28 U.S.C. § 1332(a)(1) په تعقیب شخصي قانوني اختیار او د مضمون د معاملي قانوني اختیار لري. موقعیت د مدافع OCG لپاره د 28 U.S.C. § 1391(f)(4) په تعقیب درست دی.

10. د مدافع ASOU لپاره دا محکمه د 18 U.S.C. § 1961 *et seq.*، 18 U.S.C. § 2333(a)؛ او 28 U.S.C. § 1330(a)، 28 U.S.C. § 1331 او 28 U.S.C. § 1332 په تعقیب شخصي قانوني اختیار او د مضمون د معاملي قانوني اختیار لري. موقعیت د مدافع ASOU لپاره د 28 U.S.C. § 1391(f)(4) په تعقیب درست دی.

11. د مدافع ANSF لپاره دا محکمه د 18 U.S.C. § 1961 *et seq.*، 18 U.S.C. § 2333(a)؛ او 28 U.S.C. § 1330(a)، 28 U.S.C. § 1331 او 28 U.S.C. § 1332 په تعقیب شخصي قانوني اختیار او د مضمون د معاملي قانوني اختیار لري. موقعیت د مدافع ANSF لپاره د 28 U.S.C. § 1391(f)(4) په تعقیب درست دی.

12. د مدافع افغانستان لپاره دا محکمه د 18 U.S.C. § 2333(a)؛ 28 U.S.C. § 1330(a)، 28 U.S.C. § 1331، 28 U.S.C. § 1332 او؛ او 28 U.S.C. § 1605(a)(1) په تعقیب شخصي قانوني اختیار او د مضمون د معاملي قانوني اختیار لري. موقعیت د مدافع افغانستان لپاره د 28 U.S.C. § 1391(f)(4) په تعقیب درست دی.

13. د مدافع طالبان لپاره دا محکمه د 18 U.S.C. § 1961 *et seq.*، 18 U.S.C. § 2333(a)؛ او 28 U.S.C. § 1330(a)، 28 U.S.C. § 1331 او 28 U.S.C. § 1332؛ او 28 U.S.C. § 1605(a)(1) او 28 U.S.C. § 1605A په تعقیب شخصي قانوني اختیار او د مضمون د معاملي قانوني اختیار لري. موقعیت د مدافع طالبان لپاره د 28 U.S.C. § 1391(f)(4) په تعقیب درست دی.

14. د مدافع القاعده لپاره دا محکمه د .18 U.S.C. § 1961 *et seq*، 18 U.S.C. § 2333(a)؛ او 28 U.S.C. § 1330(a)، 28 U.S.C. § 1331 او 28 U.S.C. § 1332؛ او 28 U.S.C. § 1605(a)(1) او 28 U.S.C. § 1605A په تعقیب شخصي قانوني اختیار او د مضمون د معاملې قانوني اختیار لري. موقعیت د مدافع القاعده لپاره د 28 U.S.C. § 1391(f)(4) په تعقیب درست دی.

**دریځ**

15. مدعیان، له خپل او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د محرومینو، له طرفه د دې اقدام د کولو لپاره دا دریځ لري چې هغوی د هغه غیر قانوني چلند څخه چې په اړه یې دلته شکایت شوی نیغ په نیغه اغیزمن شوي او زیان وررسیدلی دی. د هغوی دردونه بلاواسطه د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبان، او مدافع القاعده سره تړاو لري، له دوی څخه هر یو یېجلا جلا، شریک او په ګډه.

**جانبین**

16. مدعیان چارلس او ماري ان ستړینج د ملي امنیت د ادارې ("NSA") د کرفتولوجسټ تخنیک کار او د لومړۍ درجې پیټي افسر (د مهماتي جنګونو متخصص)، د نیوي سیل(Navy SEAL) د شپږم ټیم لپاره د پرسونل ملاتړي میکایل ستړینج پلار او میرنی مور دي. دی هغه وخت ووژل شو کله چې هغه هلیکوپټر چې دی پکې سپور و د طالبانو جهادیانو لخوا، نورو مدافعانو سره په همغږۍ کې په اقدام کولو، په [مدافع] افغانستان کې په 6م اګست 2011، په اراده او بدنیتی د برید لاندې راغی او راوغورځول شو.

17. مدعيان ډوګ او شان همبرګر د پيټرک همبرګر، چې د هوانوردۍ د 135م کنډک (د هوانوردۍ د کنډک عمومي ملاتړ) دويم غونډ کې د سټاف سرجنټ (د ټولي ظابط) په توګه ټاکل شوی و او د ملي پوځ د ګارد غړی و، پلار او ميرنۍ مور دي. دی هغه وخت ووژل شو کله چې هغه هليکوپټر چې دی پکې سپور و د طالبانو جهاديانو لخوا، نورو مدافعانو سره په همغږۍ کې په اقدام کولو، په [مدافع] افغانستان کې په 6م اګست 2011، په اراده او بدنيتۍ د بريد لاندې راغی او راوغورځول شو.

18. مدعي پهوتاسيټ ډواګدارا د جان ډواګدارا، چې د لومړۍ درجې ماسټر اټ ارمز (Master-at-Arms) پيټي افسر (د مهماتي جنګونو متخصص) او د نيوي سيل (Navy SEAL) د شپږم ټيم د پرسونل ملاتړی و، پلار دی. دی هغه وخت ووژل شو کله چې هغه هليکوپټر چې دی پکې سپور و د طالبانو جهاديانو لخوا، نورو مدافعانو سره په همغږۍ کې په اقدام کولو، په [مدافع] افغانستان کې په 6م اګست 2011، په اراده او بدنيتۍ د بريد لاندې راغی او راوغورځول شو.

19. د مدافع ايران بنياد په 1 اپريل 1979 هغه وخت کيښودل شو چې پخوانی مشر، شاه محمد رضا پهلوي، په يوه کودتا کې له واکه وغورځول شو. د ستر رهبر ايت الله خميني او له هغه وروسته د اوسني ستر رهبر، مدافع خامنه اي، د واک لاندې مدافع ايران يو اسلامي رژيم دی چې په تاريخي او دوامي توګه يې له جبر، ډار، تشدد، قتل او نورو بشري حقونو څخه سرغړونو او جرمونو څخه کار اخيستی دی تر څو خپل استبدادي رژيم فعال وساتي او په منځني ختيځ او ټوله نړۍ کې اسلامي خلافت ته وده ورکړي. ايران غواړي يقيني کړي چې د شريعت غير بشري او وحشي اسلامي قوانين د الله د خوښې په توګه په خلکو تحميل شي. برسيره پر دې، ايران ترورېزم ته په ودې ورکولو، ورسره په مالي مرسته کولو، پکې ګډون کولو او خورولو سره نړيوال قوانين ردوي او سوله په خطر کې اچوي. د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت په 1984 کې ايران د ترورېزم رياستي ملاتړی نومولی و. دا خبره هر ځای کې معلومه او راپور شوې ده چې مدافع ايران د متحده ايالاتو د پوځيانو د مرګونو پر اساس بخششونه ورکوي. مدافع ايران په ټولو مادي وختونو کې په خپل غير رسمي او رسمي ظرفيت کې، په ځانګړي ډول تر کومه حده چې د داسي افرادو سره په شريکه، لکه مدافع کرزی او په افغان دولت، افغان پوځ، افغان ترورستانو او افغان ترورستي ډلو کې د هغه اجنټان، د داسي جنايي کارونو په عمل کې ککړ دی چې هدف يې خپل وطن [مدافع] ايران شتمن کول دي. مدافع ايران مدافع کرزي او په افغان دولت، پوځ، ترورستانو او ترورستي ډلو کې د هغه

اجنټانو ته په امنيت باندې د مصلحت کولو په بدل کې مالي مرسته او نور د ارزښت وړ شيان برابروي او د مدعيانو د مرحومينو د مرګ او نورو ورته اوضاعو لپاره ورته پيسې ورکوي. مدافع ايران د 18 U.S.C. § 2337(2) له مخې د دې دعوې څخه نشي منع کيدلی ځکه چې د دې هدف په خاطر يې په خپل رسمي ظرفيت کې يا د قانوني واک د رنګ لاندې عمل نه دی کړی، ايران او د هغه دولتي اجنټان په رسمي توګه له تروريستي مرستې يا فعاليتونو څخه انکار کوي. مدافع ايران يو بهرنی رياست دی چې فعاليتونه يې، کوم چې دلته تشريح شوي، د هغه معافيت د دايرې څخه بهر دي چې د بهرنی خپلواکی د معافيتونو د قانون ("FSIA") لخوا ورکړل شوي دي. مدافع ايران، په خپلو فعاليتونو سره دغه معافيت د 28 U.S.C. § 1605(a)(1) په تعقيب په صراحت يا په ناخبری له لاسه ورکړی دی. مدافع ايران همداراز د 28 U.S.C. § 1605A په تعقيب مسوول دی.

20. مدافع احمدي نژاد له 2005 تر 2013 د ايران ولسمشر و. د ولسمشر په توګه له "انتخابيدو" مخکې مدافع احمدي نژاد د بسيجي مليشې په تحريک کې داوطلب کار کړی و او د امريکا او لويديځ خلاف د احساساتو په راپارولو کې او په منځني ختيځ او ټوله نړۍ کې د تروريستي افعالو په خورولو کې يې فعال ګډون درلود. دا خبره په پراخ ډول راپور شوې چې مدافع احمدي نژاد د ايران په تهران کې د متحده اياالاتو د سفارت پرسونل د يرغملولو په تړاو د ايراني يرغل په مشهور بحران کې برخه اخيستې وه. مدافع احمدي نژاد په ټولو مادي وختونو کې په خپل غير رسمي او رسمي ظرفيت کې تر کومه حده چې هغه په شخصي ډول له تروريستانو او تروريستي ډلو سره په شريکه ښکيل و، د داسې جنايي کارونو اقدام کړی چې هدف يې د خپل ځان شتمنول وو. مدافع احمدي نژاد په ټولو مادي وختونو کې له تروريستانو او تروريستي ډلو سره مالي مرسته کړې او نور د ارزښت وړ شيان يې ورته برابر کړي په بدل د دې چې په امنيت مصلحت وکړي او د مدعيانو د مرحومينو د مرګ او ورته نورو اوضاعو لپاره يې پيسې ورکړي. مدافع احمدي نژاد د 18 U.S.C. § 2337(2) له مخې د دې دعوې څخه نشي منع کيدلی ځکه چې د دې هدف په خاطر يې په خپل رسمي ظرفيت کې يا د قانوني واک د رنګ لاندې عمل نه دی کړی، ځکه چې ايران او د هغه دولتي اجنټان په رسمي توګه له تروريستي مرستې يا فعاليتونو څخه انکار کوي. مدافع احمدي نژاد يو بهرنی تن دی چې فعاليتونه يې، کوم چې دلته تشريح شوي، د هغه معافيت د دايرې څخه بهر دي چې د FSIA لخوا ورکړل شوي دي. مدافع احمدي نژاد، په خپلو فعاليتونو سره دغه معافيت د 28 U.S.C. § 1605(a)(1) په تعقيب

په صراحت یا په ناخبرۍ له لاسه ورکړی دی. مدافع احمدي نژاد همداراز د 28 U.S.C. § 1605A په تعقیب مسوول دی.

21. مدافع خامنه اي ایران کې د لوړې درجې رهبر دی او دا مهال د "عالي رهبر" په صفت نومول کیږي. هغه په دې ظرفیت کې له 1989 څخه راپدیخوا کار کوي. مدافع خامنه اي د 1970 د انقلابي غورځنګ د پلان جوړوونکي ایت الله خمیني ګوډاګی و چا چې د شاه له واکه غورځولو پلان جوړ کړی او ترسره کړی و د کوم نتیجه چې په اوسني ایران کې اوسنی تروریستي اسلامي ریاست دی. خامنه اي د ایراني پوځ، مدافع IRGC، او په خلکو د بې رحمه جبر او د هغوی د تسخیر د ټولو هغو آلو او نورو کنټرول په لاس کې لري کوم چې هغه په دې توانوي چې په ایران کې اقتدار په خپل لاس کې وساتي. مدافع خامنه اي په ټولو مادي وختونو کې په خپل غیر رسمي او رسمي ظرفیت کې په ځانګړي ډول تر کومه حده چې هغه په شخصي ډول له تروریستانو او تروریستي ډلو سره په شریکه ښکیل دی د داسې جنایي کارونو اقدام کړی چې هدف یې د خپل ځان شتمنول دي. مدافع خامنه اي له تروریستانو او تروریستي ډلو سره مالي مرسته کړې او نور د ارزښت وړ شیان یې ورته برابر کړي په بدل د دې چې په امنیت مصلحت وکړي او د مدعیانو د مرحومینو د مرګ او ورته نورو اوضاعو لپاره یې پیسې ورکړي. مدافع خامنه اي د 18 U.S.C. § 2337(2) له مخې د دې دعوې څخه نشي منع کیدلی ځکه چې د دې هدف په خاطر یې په خپل رسمي ظرفیت کې یا د قانوني واک د رنګ لاندې عمل نه دی کړی، ځکه چې ایران او د هغه دولتي اجنټان په رسمي توګه له تروریستي مرستې یا فعالیتونو څخه انکار کوي. مدافع خامنه اي یو بهرنی تن دی چې فعالیتونه یې، کوم چې دلته تشریح شوي، د هغه معافیت د دایرې څخه بهر دي چې د FSIA لخوا ورکړل شوي دي. مدافع خامنه اي، په خپلو فعالیتونو سره دغه معافیت د 28 U.S.C. § 1605(a)(1) په تعقیب په صراحت یا په ناخبرۍ له لاسه ورکړی دی. مدافع خامنه اي همداراز د 28 U.S.C. § 1605A په تعقیب مسوول دی.

22. مدافع IRGC یوه نظامي ډله ده چې ملاتړ او کنټرول یې د ایران د دولت په لاس کې دی، په ګډون د مدافع ایران، مدافع خامنه اي او مدافع احمدي نژاد. IRGC په 1979 کې له اسلامي انقلاب وروسته جوړ شوی و، او له هغې راوروسته د مدافع خامنه اي او مدافع احمدي نژاد په لارښوونه د بهرنیو پوځي او ملکي اهدافو په خلاف ګڼ شمیر تروریستي فعالیتونو کې ښکیل پاتې شوی دی. مدافع IRGC د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت لخوا په 2001 کې یوه تروریستي ډله نومول شوې وه او له هغې وروسته یې تروریستي فعالیتونو ته ودې ورکولو ته ادامه

ورکړې ده. د دې ډلې مرکز د ایران په تهران کې دی او د تروریستي فعالیتونو لپاره پیسې عموماً د دوبی له لارې په غیر قانوني توګه انتقالوي. مدافع IRGC په ټولو مادي وختونو کې په خپل غیر رسمي او رسمي ظرفیت کې په ځانګړې ډول نورو تروریستانو او تروریستي ډلو سره په شریکه داسې جنایي اعمال ترسره کړي دي چې هدف یې د خپلې ډلې او د خپل وطن [مدافع] ایران شتمنول دي او همداراز د متحده ایالاتو او د لویدیځ د ګټو خلاف اسلامي خلافت جوړول دي. مدافع IRGC له تروریستانو او تروریستي ډلو سره مالي مرسته کوي او نور د ارزښت وړ شیان ورته برابروي په بدل د دې چې په امنیت مصلحت وکړي او د مدعیانو د مرحومینو د مرګ او ورته نورو اوضاعو لپاره پیسې ورکوي. مدافع IRGC د 18 U.S.C. § 2337(2) له مخې د دې دعوې څخه نشي منع کیدلی ځکه چې د دې هدف په خاطر یې په خپل رسمي ظرفیت کې یا د قانوني واک د رنګ لاندې عمل نه دی کړی، ایران او د هغه دولتي اجنټان په رسمي توګه له تروریستي مرستې یا فعالیتونو څخه انکار کوي. مدافعIRGC یوه بهرنی اداره ده چې فعالیتونه یې، کوم چې دلته تشریح شوي، د هغه معافیت د دایرې څخه بهر دي چې د FSIA لخوا ورکړل شوي دي. مدافع IRGC په خپلو فعالیتونو سره دغه معافیت د 28 U.S.C. § 1605(a)(1) په تعقیب په صراحت یا په ناخبری له لاسه ورکړی دی. مدافع IRGC همداراز د 28 U.S.C. § 1605A په تعقیب مسوول دی.

23. مدافع کرزی دا مهال د افغانستان ولسمشر دی. مدافع کرزی په نړیواله توګه د جرم تر حده فاسد دی او د هغو معلوماتو او یقین په بنیاد چې اساس یې د کرزي له [مدافع] طالبانو او نورو تروریستي ډلو سره په اړیکو، او د امریکایانو او متحده ایالاتو په وړاندې د هغه په څرګنده کړې دښمنی دی، هغه د نیوي سیل (Navy SEAL) د شپږم ټیم او نورو هغو ځانګړو فعالیتونو د پوځیانو د مشن، Extortion 17، چې د طالبانو د مشر قاري طاهر د تعقیب لپاره یې ترسره کول، د SEAL د ځای او/یا نورو رازدارانه معلوماتو د تبادلو په مدافع طالبانو او مدافع القاعده د ډېرو پیسو په بدل کې خرڅولو سره مصلحت کړی دی، او په نورو جنایي اقداماتو چې لاندې یې تفصیل ورکړل شوی کې ښکیل پاتې شوی دی. لکه څنګه چې تفصیل یې لاندې بحث شوی، د دې خبرې په دې وروستیو کې راپور ورکړل شوی چې مدافع کرزی د خپلو امریکایي او لویدیځوالو ایتلافیانو له ګډون پرته مدافع طالبانو سره په پټو لیدنو کې ښکیل دی. کرزي په دې وروستیو کې دړکه ورکړې چې ورسره بحث شوې امنیتي موافقه به تر هغې لاسلیک نه کړي تر څو چې متحده ایالات له [مدافع] طالبانو سره په مذاکراتو کې ګډون ته راضي نه شي،

له دې ځخه ځرګندېږي چې هغه له [مدافع] طالبانو سره ملګرتیا لري. مدافع کرزی غواړي چې سخت دریځه طالب اورپکي له زندانه خوشي کړي او داسې يې کړي هم دي. د مارچ په اوایلو کې کرزي وویل چې "القاعده له حقیقته زیات افسانه ده" او دا چې دلته [په مدافع افغانستان کې] د متحده ایالاتو د بندیانو اکثریت بې ګناه دي. هغه ګومان کوي او دا يې علناً ویلي دي چې د افغانستان جګړه یواځې "د متحده ایالاتو د امنیت او د لویدیځو ګټو لپاره وه،" په دې پوهیدنې سره چې متحده ایالاتو له 600 بلیونو زیات ډالر د دغه هیواد د بیارغونې په هڅه کې لګولي دي. کرزی وایي، "نو مونږ [افغانان] ډېر غوصه خلک یو." مدافع کرزي په ټولو مادي وختونو کې په خپل غیر رسمي او رسمي ظرفیت کې په ځانګړي ډول تر کومه حده چې هغه په شخصي ډول له تروررستانو او تروررستي ډلو سره په شریکه بنکیل دی د داسې جنایي کارونو اقدام کړی چې هدف يې د خپل ځان شتمنول دي. مدافع کرزی له تروررستانو او تروررستي ډلو پیسې او نور د ارزښت وړ شیان غواړي او قبلوي په بدل د دې کې چې په امنیت مصلحت وکړي او د مدعیانو د مرحومینو د مرګ او نورو داسې اوضاعو پلان جوړونه وکړي. مدافع کرزی له دې امله د 18 U.S.C. § 2337(2) له دعوې نشي منع کیدلی ځکه چې هغه د دې اهدافو لپاره په خپل رسمي ظرفیت کې او یا د کوم قانوني واک د رنګ لاندې عمل نه دی کړی. مدافع کرزي، په خپلو فعالیتونو سره دغه معافیت د 28 U.S.C. § 1605(a)(1) په تعقیب په صراحت یا په ناخبری له لاسه ورکړی دی.

24. مدافع OCG یوه افغانه اداره ده چې د امنیتي او قانون نافذوونکو ادارو د افغان پرسونل لخوا اداره کیږي. د مدافع OCG په مسوولیتونو کې د ځانګړو عملیاتو ماموریتونو جوړول، پیلول، پلانول، کتنه ورته کول او منظورول دي، د استخباراتو په تکثیر کې برخه اخلي، د ماموریتونو د ترسره کولو نظارت کوي، ولایتي والیانو ته خبرتیاوې جوړوي، او د افغانستان د قوماندې لوړپوړو چارواکو ته راپورونه جوړوي. د هغو معلوماتو او یقین پر اساس چې د الوتکې د غورځیدو په رسمي راپور کې چې د Extortion 17 فامیلونو ته د هغوی د ځامنو له مرګ وروسته ورکړل شوی دی کې شامل دي، مدافع OCG، چې ځیني وختونه یوه جنایي پروژه ده، په باقاعده توګه له مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبان، او مدافع القاعده ځخه د مالي ګټو او بخششونو د ترلاسه کولو په بدل کې د متحده ایالاتو د عسکرو په ژوند مصلحت کوي. مدافع OCG په ټولو مادي وختونو کې په خپل غیر رسمي او رسمي ظرفیت کې په ځانګړي ډول نورو تروررستانو او تروررستي ډلو سره په شریکه اقدام کولو سره داسې جنایي اعمال ترسره کړي

دي چې هدف يې د خپلې ډلې او د خپل وطن [مدافع] افغانستان شتمنول دي. مدافع OCG له تروروستانو او تروروستي ډلو پيسې او نور د ارزښت وړ شيان غواړي او قبلوي په بدل د دې کې چې په امنيت مصلحت وکړي او د مدعيانو د مرحومينو د مرګ او نورو داسې اوضاعو پلان جوړونه وکړي. مدافع OCG له دې امله د 18 U.S.C. § 2337(2) له دعوې نشي منع کيدلی ځکه چې هغه د دې اهدافو لپاره په خپل رسمي ظرفيت کې او يا د کوم قانوني واک د رنګ لاندې عمل نه دی کړی. مدافع OCG په خپلو فعاليتونو سره دغه معافيت د 28 U.S.C. § 1605(a)(1) په تعقيب په صراحت يا په ناخبرۍ له لاسه ورکړی دی.

25. مدافع ASOU د افغانستان د ملي اردو، د افغانستان د ملي پوليسو، او د افغانستان د ملي امنيت د رياست له پرسونل جوړ دی. د هغو معلوماتو او يقين پر اساس چې د الوتکې د غورځيدو په رسمي راپور کې چې د Extortion 17 فاميلونو ته د هغوی د ځامنو له مرګ وروسته ورکړل شوی دی کې شامل دي، مدافع ASOU په باقاعده توګه له مدافع ايران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبان، او مدافع القاعده څخه د مالي ګټو او بخششونو د ترلاسه کولو په بدل کې د متحده ايالاتو د عسکرو په ژوند مصلحت کوي. مدافع ASOU په ټولو مادي وختونو کې په خپل غير رسمي او رسمي ظرفيت کې په ځانګړي ډول نورو تروروستانو او تروروستي ډلو سره په شريکه اقدام کولو سره داسې جنايي اعمال ترسره کړي دي چې هدف يې د هيواد [مدافع] افغانستان شتمنول دي. مدافع ASOU له تروروستانو او تروروستي ډلو پيسې او نور د ارزښت وړ شيان غواړي او قبلوي په بدل د دې کې چې په امنيت مصلحت وکړي او د مدعيانو د مرحومينو د مرګ او نورو داسې اوضاعو پلان جوړونه وکړي. مدافع ASOU له دې امله د 18 U.S.C. § 2337(2) له دعوې نشي منع کيدلی ځکه چې هغه د دې اهدافو لپاره په خپل رسمي ظرفيت کې او يا د کوم قانوني واک د رنګ لاندې عمل نه دی کړی. مدافع ASOU په خپلو فعاليتونو سره دغه معافيت د 28 U.S.C. § 1605(a)(1) په تعقيب په صراحت يا په ناخبرۍ له لاسه ورکړی دی.

26. مدافع ANSF د افغانستان د وسله والو ځواکونو، د افغانستان د ملي پوليسو، د افغانستان د سرحدي پوليسو، د افغانستان د محلي پوليسو څخه جوړ دی، او د ملي امنيت د رياست غړي پکې شامل دي. د هغو معلوماتو او يقين پر اساس چې د الوتکې د غورځيدو په رسمي راپور کې چې د Extortion 17 فاميلونو ته د هغوی د ځامنو له مرګ وروسته ورکړل شوی دی کې شامل دي، مدافع ANSF په باقاعده توګه له مدافع ايران، مدافع احمدي نژاد،

مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع افغانستان، مدافع طالبان، او مدافع القاعده څخه د مالي ګټو او بخششونو د ترلاسه کولو په بدل کي د متحده ایالاتو د عسکرو په ژوند مصلحت کوي. مدافع ANSF په ټولو مادي وختونو کي په خپل غير رسمي او رسمي ظرفيت کي په ځانګړي ډول نورو تروریستانو او تروریستي ډلو سره په شریکه اقدام کولو سره داسي جنایي اعمال ترسره کړي دي چي هدف یي د هيواد [مدافع] افغانستان شتمنول دي. مدافع ANSF له تروریستانو او تروریستي ډلو پیسي او نور د ارزښت وړ شیان غواړي او قبلوي په بدل د دې کي چي په امنیت مصلحت وکړي او د مدعیانو د مرحومینو د مرګ او نورو داسي اوضاعو پلان جوړونه وکړي. مدافع ANSF له دې امله د 18 U.S.C. § 2337(2) له دعوې نشي منع کیدلی ځکه چي هغه د دې اهدافو لپاره په خپل رسمي ظرفیت کي او یا د کوم قانوني واک د رنګ لاندې عمل نه دی کړی. مدافع ANSF، په خپلو فعالیتونو سره دغه معافیت د 28 U.S.C. § 1605(a)(1) په تعقیب په صراحت یا په ناخبرۍ له لاسه ورکړی دی.

27. مدافع افغانستان یو خپلواک بهرنی هیواد دی چي په مرکزي اسیا کي موقعیت لري او له [مدافع] ایران، ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان، او پاکستان سره ګډه پوله لري. افغانستان په نړیواله توګه پیژندل شوی دی چي د داسي تروریستي ډلو لخوا چلول کیږي کوم چي د طالبانو په مشرۍ وسله وال مخالفت کي ککړ دي. مدافع افغانستان، چي د مدافع کرزي، مدافع طالبانو، مدافع القاعده او د هغي د اجنټانو، خادمانو، او سازمانونو، چي ځیني یي په دې دعوه کي نومول شوي، له لارې او له لوري عمل کوي، د کومو فعالیتونه، لکه څنګه چي لاندې تشریح شوي، چي د هغه معافیت له دایرې بهر دي چي د FISA لخوا ورکړل شوي او د ولسمشر ویلیم جی. کلنټن د 4م جولای 1999 په انتظامي امر لمبر 13129[1]، د دې د تسلسل امر په 30م جون 2001 د ولسمشر جارج ډبلیو. بوش لخوا، او د ولسمشر جارج ډبلیو. بوش د 24م سپتمبر 2001 د تروریستانو د مالي مرستي په اړه انتظامي امر سره سم تروریستي فعالیتونه ګڼل شوي دي. مدافع افغانستان په ټولو مادي وختونو کي په خپل غير رسمي او رسمي ظرفیت کي په ځانګړي ډول نورو تروریستانو او تروریستي ډلو سره په شریکه اقدام کولو سره داسي جنایي اعمال

[1] "... په [مدافع] افغانستان کي د [مدافع] طالبانو کارونه او تګلاري، افغانستان کي د هغوی تر واک لاندې سیمې‌القاعدې لخوا د محفوظ ګاه او عملیاتو د مرکز په توګه کارولو اجازه ورکوي. . د القاعده سازمان کوم چي د متحده ایالاتو او د هغي د اتباعو خلاف د تشدد اقداماتو کولو ته ژمن دی او دړکي ورکوي چي دي ژمنیا ته به ادامه ورکوي، د متحده ایالاتو د ملي امنیت او بهرنۍ تګلارې لپاره یو غیر عادي او غیر معمولي دړکه تشکیلوي، او په دې توګه د یو ملي بیړني حالت څرګندونه کوي چي باید مقابله یي وشي ".

ترسره کړي دي چې هدف يې د ځان شتمنول دي. مدافع افغانستان له تروريستانو او تروريستي ډلو پيسي او نور د ارزښت وړ شيان غواړي او قبلوي په بدل د دې کې چې په امنيت مصلحت وکړي او د مدعيانو د مرحومينو د مرګ او نورو داسي اوضاعو پلان جوړونه وکړي. مدافع افغانستان له دې امله د 18 U.S.C. § 2337(2) له دعوې نشي منع کيدلی ځکه چې هغه د دې اهدافو لپاره په خپل رسمي ظرفيت کې او يا د کوم قانوني واک د رنګ لاندې عمل نه دی کړی. مدافع افغانستان، په خپلو فعاليتونو سره دغه معافيت د 28 U.S.C. § 1605(a)(1) په تعقيب په صراحت يا په ناخبری له لاسه ورکړی دی.

28. مدافع طالبان يوه له قانوني دايرې بهر اداره ده چې له شاوخوا 1996 په افغانستان کې که په رسمي ډول نه وي نو په غير رسمي ډول يې حکومت کړی او اوس يې هم کوي. مدافع طالبان دا مهال په افغانستان کې مرکز لري او هلته په فزيکي ډول موجود دي او يو بنسټپاله اسلامي غورځنګ دی. مدافع طالبانو خپل ځان د [مدافع] افغانستان د مشروع حکومت په توګه اعلان کړی دی. مدافع طالبان د متحده اياالتو د خزانې د وزارت د بهرنيو اثاثو د کنټرول د دفتر لخوا د دې د بنديزونو د قواعدو په عمومي کتنه کې داسي تشريح شوی دی "د بهرنيو اثاثو د کنټرول د دفتر د "ځانګړي نومول شوي اتباع او بنديز پرې لګول شوی کسان" په ليست کې يې نوم ليست شوی." له مدافع طالبانو سره د مدافع ايران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، او مدافع القاعده لخوا ملاتړ کيږي، کنټروليږي، بوديجه ورکول کيږي، حفاظت يې کيږي، او مرسته او ملګرتيا يې کيږي. مدافع طالبان په ټولو مادي وختونو کې په خپل غير رسمي او رسمي ظرفيت کې په ځانګړي ډول نورو تروريستانو او تروريستي ډلو سره په شريکه اقدام کولو سره داسي جنايي اعمال ترسره کړي دي چې هدف يې د خپلې ډلې او د خپل وطن [مدافع] افغانستان شتمنول دي. مدافع طالبانو له تروريستانو او تروريستي ډلو پيسې او نور د ارزښت وړ شيان غواړي او قبلوي په بدل د دې کې چې په امنيت مصلحت وکړي او د مدعيانو د مرحومينو د مرګ او نورو داسي اوضاعو پلان جوړونه وکړي. مدافع طالبان له دې امله د 18 U.S.C. § 2337(2) له دعوې نشي منع کېدلی ځکه چې هغه د دې اهدافو لپاره په خپل رسمي ظرفيت کې او يا د کوم قانوني واک د رنګ لاندې عمل نه دی کړی. مدافع طالبان، په خپلو فعاليتونو سره دغه معافيت د 28 U.S.C. § 1605(a)(1) په تعقيب په صراحت يا په ناخبری له لاسه ورکړی دی .

29. مدافع القاعده، او یا اسلامي پوځ، یو له قانوني دایرې بهر، اوږپکی تروررستي سازمان او د اخوان المسلمین او [مدافع] طالبانو د تروررستي ډلو اساس اینسودونکی غړی او سرپرست دی، او په پیل کې د اسامه بن لادن لخوا تنظیم شوی و تر څو د متحده ایالاتو او نورو خلاف د نړیوال تروریزم اعمال ترسره کړي او اسلامي جهاد وکړي. مدافع القاعده خپل عمومي مرکز په افغانستان کې لري. له مدافع طالبانو سره د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع القاعده، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، او مدافع طالبانو لخوا ملاتړ کیږي، کنټرولیږي، بودیجه ورکول کیږي، حفاظت یې کیږي، او مرسته او ملګرتیا یې کیږي. مدافع القاعده په ټولو مادي وختونو کې په خپل غیر رسمي او رسمي ظرفیت کې په ځانګړي ډول نورو تروررستانو او تروررستي ډلو سره په شریکه اقدام کولو سره داسې جنایي اعمال ترسره کړي دي چې هدف یې د هیواد [مدافع] افغانستان شتمنول دي. مدافع القاعده له تروررستانو او تروررستي ډلو پیسې او نور د ارزښت وړ شیان غواړي او قبلوي په بدل د دې کې چې په امنیت مصلحت وکړي او د مدعیانو د مرحومینو د مرګ او نورو داسې اوضاعو پلان جوړونه وکړي. مدافع القاعده له دې امله د 18 U.S.C. § 2337(2) له دعوې نشي منع کېدلی ځکه چې هغه د دې اهدافو لپاره په خپل رسمي ظرفیت کې او یا د کوم قانوني واک د رنګ لاندې عمل نه دی کړی. مدافع القاعده، په خپلو فعالیتونو سره دغه معافیت د 28 U.S.C. § 1605(a)(1) په تعقیب په صراحت یا په ناخبرۍ له لاسه ورکړی دی.

**د حقایقو بیان**

30. د 1998 د فبرورۍ په 23مه او یا ورسره نږدې تروررست سازمان مدافع طالبانو، د تروررست سازمان مدافع القاعده په ملګرتیا او مرسته، چې مشري یې د ستر تروررست رهبر اسامه بن لادن لخوا کیدله، یوه فتوه ورکړه چې ټولو مسلمانانو ته یې پکې امر ورکړ چې ټول امریکایان او د هغوی ایتلافیان - ملکي او نظامي - قتل کړي او اعلان یې وکړ چې د امریکایانو وژل د هر مسلمان فردي مسوولیت دی. د بن لادن د فتوې په ځینو برخو کې لاندې برخه راغلې:

> د خدای د امر په اطاعت سره مونږ ټولو مسلمانانو ته لاندې فتوه ورکوو: د ټولو امریکایانو او د هغوی د ایتلافیانو - ملکي او نظامي - د وژلو امر د هر هغه مسلمان لپاره چې داسې کولی شي یو فردي فرض دی. . . مونږ - د خدای په مرسته - په هر هغه مسلمان چې په خدای عقیده لري او غواړي چې د خدای د امر د تابعدارۍ انعام ورکړل

شي غږ کوو چې امريکايان ووژني او د هغوی پيسې هر کله او هر چيرته چې پيدا کړي چُور کړي.

31. وروسته، د 9/11 د کميسيون په راپور کې د هغه څه لنډيز ورکړل شوی چې بن لادن، د مدافع طالبانو او مدافع القاعده په مرسته او ملګرتيا کړي او په [مدافع] افغانستان کې بي ای بي سي تلويزيون ته په يوه مرکه کې ويلي: "د يو مسلمان لپاره د يو واحد امريکايي وژل په نورو فعاليتونو د خپلو هڅو د ضايع کولو نه ډېر بهتر دي".

32. مدافع ايران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده د ترورستي بريدونو، په ګډون د هغو چې د Navy SEAL په شپږم ټيم او د ځانګړو عملياتو په پوځونو يې کړي چې دلته تشريح شوي دي، په ترسره کولو يو بل سره په شريکه او توطيه ارادتاً او نيغ په نيغه د متحده ايالاتو او د متحده ايالاتو د پوځ په خلاف او لوري اقدامات ترسره کړي دي .

33. مدافع کرزي، مدافع افغانستان، مدافع OCG، مدافع ANSF، مدافع ASOU، مدافع طالبانو او مدافع القاعده له مدافع ايران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، او مدافع IRGC څخه مادي کومک او مالي مرسته او ملګرتيا ترلاسه کړي دي او د خپلو چاروکو، اجنټانو، او مامورينو له لارې او د هغوی په ملګرتيا يې د مدافع طالبانو او مدافع القاعده مرسته او ملګرتيا کړې چې د متحده ايالاتو او د متحده ايالاتو د پوځ د غړو پر ضد تروريستي اقدامات ترسره کړي.

34. د 2011 د مې په 2مه نېټه يا شاوخوا د Navy SEAL د شپږم ټيم غړو او د نورو ځانګړو ځواکونو غړو عمليات ترسره کړل چې په نتيجه کې يې اسامه بن لادن ونيول او ووژل شو. يواځې دوه ورځې وروسته مرستيال ولسمشر بايډن او د استخباراتو د مرکزي ادارې ("سي اي ای") پخواني رييس او لوړې ته نږدې د دفاع وزير ليون پانيټه علناً په ډاګه کړه چې د SEAL شپږم ټيم د اسامه بن لادن په کور د کاميابو عملياتو د ترسره کولو مسووليت په غاړه لرلو، چې په دې توګه يې د SEAL د شپږم ټيم غړي او نور د ځانګړو عملياتو پوځونه او د هغوی کورنۍ د مدافع ايران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع طالبانو او مدافع القاعده او نورو اسلامي جهاديانو د ځوابي بريدونو هدف جوړ کړل. د SEAL د شپږم ټيم نوم Delaware کې د Ritz Carlton په يوه غونډه کې په ډاګه کړای شو.

35. د دفاع پخواني وزیر رابرټ ګیټس وویل چې د SEAL د شپږم ټیم د غړو پیژندګلو به ښکاره نه کړی شي. خو، وروسته له هغې چې مرستیال ولسمشر بایډن او له هغې لږ وروسته د دفاع لپاره نومول شوي وزیر لیون پانیټه عمداُ د SEAL د شپږم ټیم نوم او، د پانیټه په صورت کې، د هغه ځانګړي یونټ چې په اسامه بن لادن یې بریالي عملیات ترسره کړي وو د مشر قوماندان شخصي نوم څرګند کړ، نو ګیټس که په دې ډېر نه و په قهر شوی خو سخت تنقید یې پرې وکړ چې د قانون څخه په سرغړاوي رازدارانه، د ملي امنیت معلومات ښکاره کړی شوي وو.

36. یقیناً، رابرټ ګیټس له هغه ټیم سره لیدلي وو چې بن لادن یې له منځه وړی و او ویلي یې وو چې ټیم اوس د خپلو ځانونو او خپلو کورنیو د حفاظت په اړه ویره لرله. ګیټس وویل، "ما ټولو ته وریاده کړه چې هغه تخنیکونه، تاکتیکونه، او پروسیژرونه چې SEALs د بن لادن په عملیاتو کې کارولي وو افغانستان او نورو ځایونو کې د تروررستانو او نورو دښمنانو د ښکار لپاره هره شپه کارول کیږي. له دې امله دا خبره مهمه ده چې مونږ په دې موافقه وکړو چې د عملیاتو کوم عملیاتي تفصیلات ښکاره نه کړو. دا چې مونږ هغه ووژلو، یواځې هغه څه دي چې مونږ یې ښکاره کولو ته اړتیا لرو. دغې ژمنتیا یواځې پنځه ساعته دوام وکړ. په ابتدایي توګه دا معلومات له سپینې ماڼۍ او سي آي ای افشاء شول. هغوی لافو کولو او د دې افتخار ځان ته اخیستلو لپاره انتظار نه شو کولی. زه ډېر غوصه شوی وم او یو وخت مې ډونیلسن ته وویل، "ولې نشي کیدلی چې ټول خپله خوله بنده کړي؟" ګیټس خپلې خبرې ته ادامه ورکړه، "SEALs ما سره د افشاء کیدنو په اړه خپله اندېښنه شریکه کړه، په ځانګړي ډول دا حقیقت چې رپورټرانو خپل شاوخوا ځایونه بوي کول چې هغوی پیدا کړي. هغوی د خپلو فامیلونو په اړه اندېښمن وو ". د 2011 د اګست په 6مه، د بن لادن له عملیاتو فقط درې (3) میاشتې وروسته د افغانستان تروررستانو [مدافع] طالبي جهادیانو د متحده ایالاتو-Boeing CH-47Dچینوک نظامي هلیکوپټر، چې د نوموني نښه یې17 Extortion وه، په [مدافع] افغانستان کې وویشت او راوې غورځولو، چې دیرش (30) تنه امریکایان، په ګډون د دوه ویشتو (22) Navy SEALsاو د SEAL ملاتړی پرسونل، پنځه (5) تنه د ملي پوځ ساتونکي، درې (3) د هوایي ځواک غړي او اته (8) افغانان [اوه کوماندو او یو ترجمان] پکې ووژل شول. له هغو Navy SEALs چې ووژل شول، له دوو پرته نور ټول یې د هغه ممتاز SEAL شپږم ټیم د یونټ غړي وو چې هغه عملیات یې ترسره کړي وو کومو چې یواځې نوي (90) ورځې مخکې د بن لادن د مرګ نتیجه ورکړې وه. اته (8) افغانان (ښایي ځانمرګي بمبارګر) هغه شپه وروسته له هغې په چینوک کې ووژل شول

چې اوه (7) تنه کوماندو یې په ناواضح ډول په اخري لمحو کې په هغو مخکینیو اوو (7) کوماندو بدل کړای شول کوم چې د 2011 د اګست په 6مه نیټه په اصل کې په چینوک کې د سفر لپاره ټاکل شوي وو.

37. هغه ستر چینوک هلیکوپټر چې د [مدافع] طالبي جهادیانو لخوا ویشتل شوی او راوغورځول شو د مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، او مدافع ANSF د لاربښووني لاندې په بیړه کې یوې سختې جنګي سیمې ته پرته له محافظانو او یا کومې هوایي مرستې پرته د دې لپاره لیږل شوی و چې طالبانو جنګیالیو سره د یوې جګړې پر مهال د متحده ایالاتو د پوځ د رینجرز ملګرتیا وکړي .

38. برسیره پر دې، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، او مدافع ANSF د هلیکوپټر د چلولو لپاره د عادي عملې انتخاب کړی و، په ځای د دې چې د ځانګړو عملیاتو د یو داسې پیلوټ او عملې انتخاب وکړي کوم چې به هغه وخت د الوتکې د بهتر سمبالښت لپاره چمتو وای کله چې دا ظاهراً په راکټ کې ویشتل کیدونکي ګرینیډ یا MANPAD باندې وویشتل شوه کوم چې په الوتکې کې د اور د لګیدو او لمبو اخیستلو سبب شو او نیغه په ځمکه راوغورځیده. که چیرې د دې په ځای یو MH-47 ، هغه هلیکوپټر چې د پوځ د ځانګړو عملیاتو د هوانوردۍ لخوا چلول کیږي کارول شوی وی، نو هغې ښایي د دښمن ډزې تمبولې وی، چې په دې طریقه به زمونږ د وژل شوو امتیازي اتلانو ژوند ژغورل شوی وی. په حقیقت کې د دغه چینوک د ویشتل کیدو څخه اولس (17) ورځې وړاندې یو ورته برید چې په یو MH-47G شوی و هلیکوپټر ته یې د یو کوچني کالیبر د کارتوس له زیان پرته نور هیڅ نتیجه نه وه ورکړې .

39. ختیځ [مدافع] افغانستان نظامي الوتکو لپاره په خطرناکې اراضۍ مشهور دی، ځکه چې د غرونو سلسلې یې کړې وړې دي کوم چې هغو اورپکو او تروریستانو ته پناه ځایونه ورکوي چې په راکټ ویشتل کیدونکو ګرینیډ لانچرونو او MANPAD وسلو سمبال دي. هغه CH-47D چینوک نظامي هلیکوپټر چې د Extortion 17 لپاره کارول شوی - یو غټ، د کرار حرکت ټرانسپورټ وړونکی چې روایتي ایرفریم یې د 1960 کلونو په لومړنیو کې جوړ شوی او وروستی د جوړښت کار یې د 1980 کلونو په مینځ کې شوی - په ځانګړې ډول کمزوری دی ځکه چې دې باندې زیاتره وخت په داسې وادیانو کې د لار ایستلو لپاره زور راوړل کیږي چیرته چې یاغیان او تروریستان د غرونو د لمنو او کورونو څخه د دې د ویشتلو لپاره زیاته برابره کچه ترلاسه کولی شي.

40. د متحده ایالاتو او ولسمشر [مدافع] کرزي ترمنځ د ډېرو بیلابیلو تړونونو پر اساس امریکایي پوځونه تر هغه وخت جنګ ته نشي استول کیدلی تر څو چې د مدافع کرزي او نورو افغان چارواکو لکه مدافع OCG، مدافع ASOU، او مدافع ANSF لخوا یې لاربښوونه نه وي شوې، اختیار یې نه وي ورکړل شوی، او قومانده یې نه وي شوې. د دغه زیات خطر او کمزورۍ باوجود مدافع کرزي د افغانستان د نظامي ځواکونو د قوماندان په صفت، مدافع OCG، مدافع ASOU، ANSF، او په افغانستان کې نورو لوړپوړو نظامي چارواکو دا Navy SEALs او نور د ځانګړو عملیاتو پوځونو جګړې ته پرته د ځانګړو عملیاتو د هوانوردۍ او مناسب هوایي ملاتړ لیږلي وو، چې په دې توګه یې په بدنیتۍ، په اراده، په پوهه، او په غفلت هغوی په معقوله توګه معلوم او غیر ضروري خطر کې اچولي، هغوی یې نور هم د یاغي تروریستانو بریدونو او له دې امله له مرګ سره مخ کړي دي.

41. د معلوماتو او ګومان پر اساس، مدافع کرزي د دې اجازه ورکړې وه او لاربښوونه یې کړې وه چې د مدافع طالبانو لخوا د الوتکې ویشتلو خبر په افغاني رسنیو کې خپور کړي، کوم چې د افغانستان ملي راډیو تصدیق کړ چې دا د SEALشپږم ټیم و کوم چې د مدافع طالبانو لخوا ویشتل شوی او راغورځول شوی و. دا یو څو دقیقې وروسته له هغې وشو چې Extortion 17 ویشتل شوی و.

42. برسیره پر دې، افغان ځواکونو، په ګډون د مدافع OCG، مدافع ASOU، او مدافع ANSF، چې د Navy SEAL د شپږم ټیم د ځواکونو، د ملي محافظانو، او نورو ځانګړو عملیاتو د متخصصینو سره په هلیکوپټر کې سپاره وو په صحیح طریقه نه وو تالاشي شوي او، د معلوماتو او ګومان پر اساس، د دې ماموریت په اړه یې مدافع طالبانو ته د رازدارانه معلوماتو د ورکولو عمل د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع افغانستان، او مدافع القاعده په خوښه او ملګرتیا کې کړی و، چې نتیجه یې د هلیکوپټر ویشتل کېدل شول.

43. مدافع افغانستان، مدافع کرزی، مدافع OCG، مدافع ASOU، او مدافع ANSF په دې کې تاریخ لري چې د متحده ایالاتو د نظامي ځواکونو خلاف پاڅېږي او په عمدي، مخکې نه جوړ شوي پلان، او بې رحمانه توګه یې وژني. د افغان ځواکونو - چې د مدافع OCG، ASOU، او مدافع ANSF څخه جوړ شوي - لخوا د متحده ایالاتو په

ایتلافي ځواکونو بریدونه (تش په نامه شین-په-ابي-بریدونه)[2] په افغانستان کې د جګړې لپاره يو ستر خطر دی، په ځانګړي توګه له هغه وخته چې د متحده ایالاتو پوځ، د مدافع کرزي، مدافع افغانستان، مدافع OCG، مدافع ASOU، او مدافع ANSF په غوښتنه په زیاتیدونکي ډول امنیتي مسوولیتونه افغان ځواکونو ته انتقالوي. مدافع طالبانو او مدافع القاعده د متحده ایالاتو د ځواکونو خلاف بریدونو څخه په خپله پروپاګنډه کې کار اخلي او په باقاعده ډول د هر برید په اړه ادعا کوي چې د هغوی په لیکو کې داخل شوي دي. د مدافع طالبانو مشر ملا محمد عمر د شین-په-ابي بریدونو د مسلې په اړه په یو بیان کې خبرې کړي کوم چې په اګست 2012 کې خپور شوی و - دقیق یو کال وروسته له هغې چې Extortion 17 ویشتل شوی و. عمر ادعا وکړه چې مدافع طالبان "په واضح ډول د هغه پلان له مخې چې هغوی ته تیر کال ورکړل شوی و د دښمن په لیکو کې ځانونه ننویستلي دي،" او د مدافع کرزي، مدافع افغانستان، مدافع OCG، مدافع ASOU، او مدافع ANSF په ګډون له دولتي چارواکو او نور امنیتي پرسونل څخه یې غوښتنه وکړه چې خپله وظیفه پرېږدي او د خپل دیني مسوولیت په خاطر مدافع طالبانو سره ملګري شي. عمر یو څو میاشتې وروسته خپلې دغې غوښتنې ته ادامه ورکړه چې مدافع افغانستان، مدافع کرزی، مدافع OCG، مدافع ASOU، او مدافع ANSF دې "[خپل] فعالیتونه زیات کړي چې د دښمن په لیکو کې د ځان ننویستلو سیمه پراخه کړي او په خپل کار کې بهتر تنظیم او ترتیب راوړي. مونږ پر هغو افغانانو غږ کوو چې اوس هم د ګوډاګي رژیم سره ولاړ دي چې د بهادرو خلکو په توګه خپله بشپړه همکاري له خپلو مجاهدو خلکو سره وکړي تر څو ملي ګټې خوندي او د هیواد خپلواکي بشپړه شي. د ریاست د ملیشو د دایرې دننه جهادي فعالیتونه تر ټولو زیاته اغیزمنه ستراتیژي ده. . ." د مدافع طالبانو او مدافع القاعده لخوا لیکو ته ننوتل د دې نیغه او بلاواسطه نتیجه ده چې مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، او مدافع IRGC مدافع کرزي، مدافع افغانستان، مدافع OCG، مدافع ASOU، او مدافع ANSF ته پیسې ورکوي او نورې مالي ګټې وررسوي، چې په دې توګه دا مدافعین ـ د پیسو د ورکړو په بدل کې ـ په لیکو کې دخول ته نورې اسانتیاوې او لارې چارې برابروي. برسیره پر دې، مدافع کرزی، مدافع افغانستان، مدافع OCG، مدافع ASOU، او مدافع ANSF په لیکو کې دې دخول ته نورې اسانتیاوې او لارې چارې د دې لپاره برابروي چې د مدافع طالبانو او مدافع القاعده خوشامد

[2] په افغانستان کې ټول هغه بریدونه په کومو کې چې ککړ کسان د افغان امنیتي ځواکونو سره تړون لري ـ که هغه افغان ملي اردو، افغان محلي پولیس، افغان سرحدي پولیس، افغان یونیفارم پولیس، افغان هوایي ځواکونه، یا نورې څانګې، یا داسې امنیتي پرسونل وي چې د افغان چارواکو لخوا په کار ګومارل شوي وي - "شین" ګڼل کیږي. په ورته توګه، هغه ټول کسان چې د متحده ایالاتو، ایساف، یا ناټو د امنیتي ځواکونو سره د تړون په توګه پیژندل کیږي "ابي" ګڼل کیږي.

وکړي، تر څو په بدل کې يې هغوی په دې موافقه وکړي چې مدافع کرزی قتل نه کړي او د هغه [مدافع] حکومتونه له منځه يونسي، چې په دې توګه اجازه ورکوي چې د اسلامي خلافت د لاسته راوړلو لپاره د دې تروروستي ډلو او د مدافع ايران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، او مدافع IRGC د ګوډاګيانو په توګه پاتې او دوام وکړي.

44. د 2014 د فبروري په 4مه راپور ورکړل شوی چې مدافع کرزي له مدافع طالبانو سره پټ تماسونه نيولي دی. نيو يارک ټايمز راپور ورکړی و چې د افغانستان مدافع حامد کرزی "د امريکايي او لويديځوالو ايتلافيانو له ګډون پرته د سولې د يوې موافقې په اړه له [مدافع] طالبانو سره په پټو خبرو کې اخته دی، چې په دې توګه يې متحده اياالاتو سره خرابې اړيکې لا هم پسې خرابيږي." دا همداراز وايي، "دغه پټې خبرې ظاهراً د [مدافع] ښاغلي کرزي د يو شمير هغو اقداماتو په وضاحت کې مرسته کوي چې ښکاري په دې اراده يې کړي وو چې خپل امريکايي ملاتړي د ځان مخالف کړي. . . په دې وروستيو اونيو کې [مدافع] ښاغلی کرزی اوس هم واشنګټن سره د هغې اوږدمهالي امنيتي موافقې د لاسليکولو څخه انکار ته دوام ورکوي چې خبرې ورسره پرې شوې وې، ټينګار کوي چې سخت دريځه طالب جنګيالي دې له زندانه خوشې کړی شي او د هغه څه په اړه يې تحريف شوی ثبوت تقسيم کړی کوم چې هغه د امريکا جنګي جرمونه بللي." امريکايي چارواکي وايي، "هغوی بې يقينه دي چې ايا د [مدافع] ښاغلي کرزي له دولت او يا له راتلونکو ټاکنو وروسته د هغه د ځای ناستي سره به لږ تر لږه امنيتي همکاري روانه وساتلی شي که نه".

45. مدافع ايران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع افغانستان، مدافع طالبان، او مدافع القاعده په منځني ختيځ کې د متحده اياالاتو د پوځيانو په مرګ کې نيغ په نيغه او بلاواسطه ښکيل دي او سبب شوي يې دي. په مشخصه توګه دا خبره افشاء شوې ده چې مدافع ايران نورو تروروستي سازمانونو ته د يو وژل شوي امريکايي عسکر په سر 1,000$ انعام ورکوي او د امريکايي پوځ د يو موټر د له منځه وړلو په سر 6,000$ ورکوي. لږ تر لږه پنځه ايراني شرکتونه او مدافع IRGC په افغانستان کې اسلامي تروروستي ډلو ته پيسې ليږي تر څو د متحده اياالاتو په مشرۍ لويديځو قوتونو خلاف جګړې مالي مرسته وکړي. دا مالي مرسته دومره غټه ده چې د طالبانو يو د پيسو سمبالوونکی ادعا کوي چې هغه په تيره موده کې شخصاً له مدافع ايران څخه 80,000$ ترلاسه کړي دي.

افغاني استخباراتو او [مدافع] طالبي چارواکو څرګنده کړې چې پیسې د غیر رسمي شرکتونو لخوا افغان باغیانو ته انتقالیږي.

46. مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده د خپل ارادي، خودسره او بدنیته چلند له لارې د متحده ایالاتو د پوځیانو مرګ رامنځته کړی او د SEAL د شپږم ټیم د غړو او د نورو ځانګړو عملیاتو د پوځیانو چې دلته یې تشریح ورکړل شوې په وژلو کې نیغ په نیغه لاس لرلی او په دې کې یې مرسته او ملګرتیا کړې ده .

47. وروسته له هغې چې د Navy SEAL د شپږم ټیم د یونټ او د نورو ځانګړو عملیاتو د پوځیانو جسدونه Dover ته بیرته راوړل شول، مدعیانو د خپلو ځانونو او خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو لخوا، د ولسمشر اوباما، مرستیال مشر بایډن او نورو چارواکیو په ګډون د اډمیرال ویلیم ایچ. مکراون (Admiral William H. McRaven)، چا چې په ټولو مادي وختونو کې د افغان تیاتر مسوولیت په غاړه درلود، څخه د سپیناوي غوښتنه وکړه. یو بشپړ، قناعت ورکوونکی، او باوري سپیناوی مخې ته رانغی او له هغې وروسته تر اوسه مدعیانو ته، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو لخوا، په لاس نه دی ورکړل شوی. د بیلګې په توګه، یو ځل مدعي سټرینج او ولسمشر اوباما له یو بل سره مخ شول چې مدعي سټرینج ښاغلي اوباما ته وویل چې هغه ته د خپل ځوي په اړه د معلوماتو ورکولو اړتیا نشته (وروسته له هغې چې ولسمشر مدعي سټرینج ته وویل چې د هغه ځوی د وطن لپاره یو اتل دی)؛ مدعي سټرینج چې د دغې په ځای دې په دې اړه معلومات ورکړی شي چې د ځوي سره یې څه پېښ شوي وو. ولسمشر اوباما وویل چې په دې اړه به "ژور تحقیق" وکړي، خو تر اوسه پورې کوم ځوابونه مخې ته نه دي راغلي .

.48

<u>**د مرستې لومړۍ دعوه**</u>

**(18 U.S.C. § 2333 (د تروریزم ضد د دعوې قانون) هر یو مدعي ځان ته))**

49. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه د دې شکایت ټول له پراګراف 1 څخه تر 48 مخکیني تورونه د همدغه قوت او اغیز سره بیا تکراروي او لګوي، لکه څنګه چې دلته بیا په بشپړ تفصیل سره تشریح شوي دي .

50. د مدعیانو، د خپلو ځانونو او خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه په اقدام کولو کوم چې په ټولو وختونو کې د متحده ایالاتو اتباع دي او وو، شخصیتونو، جایداد، او کاروبار ته د هغه نړیوال تروریزم د اقداماتو په دلیل د پام وړ زیانونه رسیدلي دي کوم چې د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کـرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده لخوا د 2011 د اګست په 6مه د هغوی په غیر رسمي ظرفیت کې ترسره شوي وو، چې نتیجه یې د مدعیانو د مرحومینو مرګ شوې، او چې د کوم د پلان جوړوني، روزني، او چمتووالي د پام وړ برخه اساساً د متحده ایالاتو د ځمکني قلمرو څخه بهر ترسره شوي وو.

51. د مدعي ایران، مدعي احمدي نژاد، مدعي خامنه اي، مدعي کرزي، مدعي افغانستان او مدعي طالبانو لخوا په افغانستان کې مدعي IRGC، مدعي OCG، مدعي ASOU، مدعي ANSF او مدعي القاعده سره مالي مرسته او ملاتړ او همداراز په [مدعي] افغانستان کې مدعي القاعده ته عملیاتو لپاره د پناه ځای او اډې ورکول د کوم څخه چې هغوی Extortion 17 کې په سپرو د متحده ایالاتو په پوځونو تروروستي بریدونه ترسره کړي، په شمول د خو تر دې محدود نه، د مدعیانو د مرحومینو، میکایل سټرینج، پیټرک همبرګر او جان ډوانګدارا، دوه ویشت (22) Navy SEALs او د SEAL ملاتړ، پنځه (5) ملي محافظان او درې (3) د هوایي ځواک غړي - چې د SEALs پنځلس (15) یکې د هغه ټیم غړي وو کوم چې غټ تروروست بن لادن نیولی او وژلی و - د خپل مشر د مړیني په غبرګون کې، د نړیوال تروریزم هغه اعمال جوړوي چې د مدعیانو او د مدعیانو د مرحومینو شخص، جایداد، او کاروبار ته یې د پام وړ زیان رسولی دی.

52. مدعي ایران، مدعي احمدي نژاد، مدعي خامنه اي، مدعي IRGC، مدعي کرزي، مدعي OCG، مدعي ASOU، مدعي ANSF، مدعي افغانستان، مدعي طالبان، او مدعي القاعده، چې په خپل غیر رسمي ظرفیت کې د یو بل په مرسته او ملګرتیا عمل کولو، په 17 Extortion برید کړی چې دا هم یو د نړیوال تروریزم اقدام جوړوي او د مدعیانو، چې د خپلو ځانونو او خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه اقدام کوي، شخص، جایداد، او کاروبار لپاره د پام وړ زیان سبب شوي دي.

53. د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده د غلط چلند په وجه، چې هر یو یې ځان ځان ته او په شریکه او ملګرتیا ترسره کړی، مدعیانو، چې د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه اقدام کوي، ته عمدي درد، غم، شدیده عاطفي پریشاني او مرګ رسیدلی، او د مالي او اقتصادي زیان، د مرستې له زیان، د پالنې له زیان، له پاملرنې او لارښوونې، خفګان، فکرمندی، د خدمتونو له زیان، د ټولنې له زیان، او له نورو ذهني او فزیکي زیانونو سره مخ شوي دي.

54. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه غوښتنه کوي چې د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده په خلاف په شریکه او ملګرتیا قضاوت وکړل شي، په ګډون د زیانونو د درې چنده معاوضې په تعقیب د 18 U.S.C. § 2333(a)، د معاوضې او اصلي زیانونه، د څارنوالانو معقول فیسونه، له قضاوت مخکې ګټه، وروسته-ګټه، لګښتونه، او د $200,000,000.00 څخه لوړ اصلي او معاوضتي بدل لپاره، درې چنده زیات $600,000,000.00، په ګډون د څارنوالانو د فیسونو او لګښتونو، او داسې نورې معاوضې څنګه چې د محکمې لخوا انصاف او مناسب وګڼل شو.

**<u>د مرستې دویمه دعوه</u>**

**(18 U.S.C. § 2339 (تروریستانو ته ځای ورکول یا پټول) هر یو مدعي ځان ته))**

55. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه د دې شکایت ټول له پراګراف 1 څخه تر 54 مخکیني تورونه د همدغه قوت او اغیز سره بیا تکراروي او لګوي، لکه څنګه چې دلته بیا په بشپړ تفصیل سره تشریح شوي دي.

56. د مدعیانو، چې د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه اقدام کوي، کوم چې په ټولو وختونو کې د متحده ایالاتو اتباع دي او وو، شخص، جایداد، او کاروبار ته د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده لخوا تروریستانو ته د پټنځای ورکولو او یا د هغوی د پټولو په وجه د پام وړ زیانونه رسیدلي دي.

57. مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبان، مدافع القاعده، چې عمل يې یو بل سره په ملګرتیا او په خپل غیر رسمي ظرفیت کې و، داسې کسانو ته پټن ځای ورکړی یا پټ کړي وو د کوم په اړه چې هر مدافع پوهېده او یا یې د پوهېدلو وجه وه چې هغوی به یوه الوتکه له منځه وړي .

58. د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده د غلط چلند په وجه، چې هر یو یې ځان ځان ته او په شریکه او ملګرتیا ترسره کړی، مدعیانو، چې د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه اقدام کوي، ته عمدي درد، غم، شدیده عاطفي پریشاني او مرګ رسېدلی، او د مالي او اقتصادي زیان، د مرستې له زیان، د پالنې له زیان، له پاملرنې او لارښوونې، خفګان، فکرمندی، د خدمتونو له زیان، د ټولنې له زیان، او له نورو روحي او فزیکي زیانونو سره مخ شوي دي.

59. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه غوښتنه کوي چې د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده په خلاف په شریکه او ملګرتیا قضاوت وکړل شي، په ګډون د زیانونو د

درې چنده معاوضې په تعقیب د 18 U.S.C. § 2333(a)، د معاوضې او اصلي زیانونه، د څارنوالانو معقول فیسونه، له قضاوت مخکې ګټه، وروسته-ګټه، لګښتونه، او د $200,000,000.00 څخه لوړ اصلي او معاوضتي بدل لپاره، درې چنده زیات $600,000,000.00، په ګډون د څارنوالانو د فیسونو او لګښتونو، او داسې نورې معاوضې څنګه چې د محکمې لخوا انصاف او مناسب ګڼل کیږي.

**د مرستې دریمه دعوه**

**(18 U.S.C. § 2339A (یو تروریستي سازمان ته مادي مرسته او سرچینې برابرول (هر یو مدافع ځان ته))**

60. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه د دې شکایت ټول له پراګراف 1 څخه تر 59 مخکیني تورونه د همدغه قوت او اغیز سره بیا تکراروي او لګوي، لکه څنګه چې دلته بیا په بشپړ تفصیل سره تشریح شوي دي .

61. د مدعیانو، چې د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه اقدام کوي، کوم چې په ټولو وختونو کې د متحده ایالاتو اتباع دي او وو، شخص، جایداد، او کاروبار ته هغو تروریستي اقداماتو ته د مالي مرستو او سرچینو د برابرولو او د هغو تروریستي اقداماتو د مالي مرستې د نوعیت، موقعیت، سرچینې او ملکیت د پټولو یا بدلولو له امله د پام وړ زیان رسېدلی دی کوم چې د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده لخوا ترسره شوي دي .

62. مدافع القاعده او مدافع طالبانو سره د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، او مدافع افغانستان مالي ملاتړ او کومک هغه تروریستي اقدامات جوړوي چې د مدعیانو او د مدعیانو د مرحومینو شخص، جایداد، او کاروبار ته د پام وړ زیانونو رسولو سبب ګرځیدلي دي .

63. مدافع طالبان او مدافع القاعده دواړه تروریستي سازمانونه دي چې د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، او مدافع افغانستان لخوا ورسره په تروریستي چلند کې مرسته کیږي.

64. مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزی، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبان، او مدافع القاعده، په فردي او شريک عمل کې، د قومونو د قانون، نړیوال قانون څخه په سرغړونه په تروریزم او د بشري او ملکي حقونو په خلاف ورزی کې ککړ دي، او د هیوادونو او ریاستونو خلاف د نورو تر څنګ د تشدد په اقداماتو او داسې اقداماتو کې ککړ دي چې د بشري ژوند لپاره خطر دي د کومو هدف چې د یو هیواد نفوس او د هغوی پوځ تهدیدول او یا پرې جبر کول وو، او د تهدید او جبر له لارې د یو حکومت او د هغې د خلکو په تګلاره اغیز کول دي؛ او په پراخه کچه د تباهی، قتلونو، اختطافونو یا یرغمل نیولو، او یا نورو مضرو اقداماتو څنګه چې د متحده ایالاتو په کوډ 31 CFR 594.311، او باب 113B د برخي I په 18م عنوان کې تشریح شوي په واسطه د یو حکومت چلند اغیزمنول دي.

65. مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزی، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبان، او مدافع القاعده، په داسې جنایي اعمالو کې هم ککړ پاتې شوي چې هدف او اساس یې د مشخصو خلکو یا د خلکو د یوې ډلې یا د عام ولس په ذهنونو کې یو تروریستي ډار پیدا کول دي کوم چې په League of Nations Convention (1937) او د عمومي اسامبلې په قرارداد 51/210 (1999) کې تشریح شوي، په کومو کې چې دا ډول اقدامات په سختۍ سره غندل شوي.

66. د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزی، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبان، او مدافع القاعده، تروریستي اقدامات د قومونو د قانون او د شرافت د نړیوالو معیارونو څخه سرغړونه ده.

67. مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزی، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبان، او مدافع القاعده د قومونو د قانون څخه په سرغړونه د نورو تروریستي سازمانونو سره توطیې جوړې کړې او مرسته او ملګرتیا یې ورسره کړې، اسانتیاوې یې ورته برابرې کړې، او مالي مرسته یې ترې غوښتلې او ورکړې ده.

68. د هغو پېښو چې دلته یادې شوي په وخت مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزی، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، په فردي توګه او مدافع القاعده او مدافع طالبانو د تروریستي سازمانونو او نورو تروریستي ډلو او قومي ریاستونو سره په شریکه او ملګرتیا عمل کولو

سره، د متشدده فعالیتونو په ترسره کولو کي ښکیل وو، په شمول خو تر دې محدود نه، د SEAL د غړو او د ځانګړو عملیاتو د نورو پوځونو چې دلته یې تشریح ورکړل شوې د قتل.

69. لکه چې له دې وړاندې یې تور لګول شوی، د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزی، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبان، او مدافع القاعده، نیغ په نیغه او د خپلو اجنټانو په مرسته او له لارې، تروریستي سازمانونو ته د پام وړ مرستې برابرې کړي کومو چې بیا د ملکي او نظامي دوارو اهدافو خلاف مضر اقدامات ترسره کړي، تر څو، بشري ژوند ته په بشپړ بې احترامۍ سره، زیات نه زیات اندازه زیان ورسوي. بیا هم په دې کې بلاواسطه یا بلواسطه د متحده ایالاتو د یو پوځي په سر د 1,000$ انعام ورکول او د متحده ایالاتو د نظامي موټرو د له منځه وړلو په سر د 6,000$ انعام ورکول شامل دي. دا مرسته هغو تروریستي ډلو یا نورو کسانو چې د متحده ایالاتو اتباعو یا پوځ ته زیان رسول غواړي ته د نیغ په نیغه پیسو ورکولو، روزنو، تجهیزاتو ورکولو، او تحریکولو په بڼه ترسره کېږي. د دې مرستې نیغ په نیغه نتیجه هغه قتل او د بشریت خلاف نور جرمونه دي چې دلته یې تشریح وشوه.

70. تر دې دمه په ټولو وختونو کي مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزی، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، او مدافع افغانستان ته معلومه وه او یا باید ورته معلومه وی چې مدافع القاعده او مدافع طالبانو او نورو تروریستي ډلو یا قومي ریاستونو ته مرسته برابرول به د قتلونو لپاره اسانتیا برابرول او پکي مرسته او ملګرتیا کول وي، په ګډون د مدعیانو د مرحومینو، د SEAL د شپږم ټیم د غړو او د ځانګړو عملیاتو د نورو پوځونو د قتل.

71. تروریستي ډلو ته د دې ډول مرستو په نتیجه کي مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزی، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبان، او مدافع القاعده د قومونو د قانون، د متحده ایالاتو د منل شوي قانون، نړیوالو قوانینو، موافقو او نورمونو، په شمول خو تر دې محدود نه هغو برخو چې مخکې یې دلته یادونه وشوه خلاف ورزي کړې ده. د نړیوال تروریزم له منځه وړلو د تدابیرو اعلامیه او د هغې اقتباسات چې د 1994 د دسمبر په 9 د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې لخوا په حوالې سره رااخیستل شوي او خپل کړی شوي دي(GA Res. 49/50) ؛ د تروریزم ضد قانون، 18 U.S.C. 113B؛ د تروریزم ضد او اغیزمن مرګ د جزا قانون، (1996) Pub. L. No. 104-132, 110 Stat. 1214؛ د 2001 د

هغو صحیح آلاتو د برابرولو چې د تروریزم د معلومولو او مخنیوي لپاره لازم دي په برابرولو د امریکا د یووالي

او پیاوړي کولو قانون ("د متحده ایالاتو د حب الوطنی قانون")، Pub. L. No. 107-56, 115 Stat. 271

(2001)؛ د نسل کشی د جرم د مخنیوي او جزا کنوینسیون؛ ماده 2 د 1949 د دسمبر 9مه، 78 UNTS؛ د

تروریزم د مالي مرستو د ځپلو لپاره نړیوال کنوینسیون، G.A. Res. 39 I.L.M. 270 (Dec. 9, 1997);

54/109, 1 UN Doc A/RES/54/109 (Dec. 1, 1999) او د له 130 زیاتو هیوادونو څخه یې تصدیق شوی

(د مالي مرستو کنوینسیون)؛ د متحده ایالاتو چارټر، 59 State. 1031، (1945) 3 Bevans 1153؛ د بشري

حقونو نړیواله اعلامیه، G.A. Res. 217A (iii), U.N. Doc. A/810 (1948)؛ د ملکي او سیاسي حقونو په

اړه نړیوال تړون، G.A. Res. 2222A(xxi), 21 U.N. Doc., GAOR Supp. (No. 16) at 52 U.N.

Doc. A 6316 (1966)؛ د 1949 د ژنیوا کنوینسیون عامه ماده 3؛ د 1997 د ژنیوا پروټوکول II څلورمه او

دیارلسمه ماده؛ په نړیوالو کاروباري چارو کې د بهرنیو دولتي چارواکیو د رشوت د مخنیوي کنوینسیون، 37

I.L.M. 1(Dec. 18, 1997)؛ او نور بنسټیز پرینسپونه.

72. د مدعیانو د مرحومینو قتل د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو او مدافع القاعده لخوا تروریستي سازمانونو سره د هغوی د توطیو او ورته د مرستي برابرولو، او د هغوی د فردي او دولتي اقداماتو، په شریکه او ملګرتیا، څنګه چې یې پورته تور لګول شوی، نیغ په نیغه او بلاواسطه نتیجه ده.

73. مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، او مدافع افغانستان د مدعیانو په وړاندې مسوولیت لري ځکه چې دوی له مدافع القاعده، مدافع طالبانو، او نورو تروریستي ډلو او قومي ریاستونو سره د مدعیانو او د هغوی د مرحومینو خلاف د تروریستي اقداماتو په منځته راوړلو او ترسره کولو کې مرسته او کومک کړی، لارښووني یې ورکړي، امر یې ورکړی، غوښتنه یې کړې، پیسې یې ورکړي، له غفلته یې کار اخیستی، په ګډ جنایی عمل کې یې برخه اخیستي، تصدیق یې کړی، تایید کړی یې دی، او توطیې یې ورسره جوړې کړې دي .

74. مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، او مدافع افغانستان او د دوی اجنټانو په پوهه او اراده له مدافع القاعده، مدافع طالبانو، او نورو تروریستي ډلو او قومي

رياستونو او د هغوی همکارانو سره مرسته کړې چې داسې اعمال ترسره کړي کوم چې د منل شوو نړیوالو قوانینو او نورمونو خلاف ورزي ده، او دې تروریستي ډلو او د هغوی همکارو سازمانونو ته د داسې آلاتو، پیسو، وسیلو، او خدمتونو په برابرولو چې سرغړونې پرې ترسره کړي یې د نړیوال قانون څخه د سرغړونې لارې چارې برابرې کړې دي د دې معلوم یا ورکړل شوي علم سره چې دغه آلات، وسیلې او خدمتونه ښايي (او یا کیدلی شي) چې د Extortion 17 راغورځولو د هدف لپاره وکارول شي .

75. د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده د غلط چلند په وجه، چې هر یو یې ځان ځان ته او په شریکه او ملګرتیا ترسره کړی، مدعیانو، چې د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه اقدام کوي، ته عمدي درد، غم، شدیده عاطفي پریشاني او مرګ رسېدلی، او د مالي او اقتصادي زیان، د مرستې له زیان، د پالنې له زیان، له پاملرنې او لارښوونې، خفګان، فکرمندی، د خدمتونو له زیان، د ټولنې له زیان، او له نورو روحي او فزیکي زیانونو سره مخ شوي دي.

76. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه غوښتنه کوي چې د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده، د هر یو په خلاف ځان ته ځان ته او په شریکه او ملګرتیا قضاوت وکړل شي، په ګډون د زیانونو د درې چنده معاوضې په تعقیب د 18 U.S.C. § 2333(a)، د معاوضې او اصلي زیانونه، د څارنوالانو معقول فیسونه، له قضاوت مخکې ګټه، وروسته-ګټه، لګښتونه، او د 200,000,000.00$ څخه لوړ اصلي او معاوضتي بدل لپاره، درې چنده زیات 600,000,000.00$، په ګډون د څارنوالانو د فیسونو او لګښتونو، او داسې نورې معاوضې څنګه چې د محکمې لخوا انصاف او مناسب ګڼل کیږي .

## د مرستې څلورمه دعوه

**(18 U.S.C. § 1961 *et seq.* (په پیسو اخیستل شوي او فاسد سازمانونه) - مدافع کرزی، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع طالبان، مدافع القاعده))**

77. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه د دې شکایت ټول له پراګراف 1 څخه تر 76 مخکیني تورونه د هماغه قوت او اغیز سره بیا تکراروي او لکوي، لکه څنګه چې دلته بیا په بشپړ تفصیل سره تشریح شوي دي .ناخپلواک مدافعین هر یو د په پیسو اخیستل شوو او فاسدو سازمانونو د قانون ("RICO") د معنی دننه "کسان" دي .

78. مدافع تروریستان او تروریستي ډلې هر یو د RICO د معنی دننه "اداره" ده، د کومو فعالیتونه چې په بین الریاستي او بهرني تجارت باندې اغیز کوي .

79. د دغو ثابتو اعمالو چې په دې شکایت کې تشریح شوي، په ګډون د پرته له محدودیتونو: په ثابتو تروریستي اعمالو کې ښکیلېدل، په تروریزم، قتل، د پیسو د وسیلو ناقانونه انتقال کې ښکیلېدل، د هغو پیسو په ورلو راوړلو کې ښکیلېدل چې د غیر قانوني فعالیت نه په نامناسبه طریقه لاسته راوړل شوې وې، په برکت مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده داسې مالي بودیجې او عاید لیږدولي، ترلاسه کړي او رسولي چې بلاواسطه یا بالواسطه په پیسو د اخیستلو د طریقې د یو داسې فعالیت څخه لاس ته راوړل شوي په کوم کې چې دوی هر یو له (a)1962 § .U.S.C 18 په سرغړونه د اساس په توګه برخه اخیستې او داسې عایدات او د داسې عایداتو ګټې یې بالواسطه یا بلاواسطه د تروریستي ادارو د جوړولو یا فعال ساتلو لپاره کارولي یا یې پکې پانګه اچونه کړې .

80. د مدافعینو له (a)1962 § .U.S.C 18 څخه د سرغړونې د نیغ په نیغه یا بلاواسطه نتیجې په توګه مدعیان، د خپلو ځانونو او خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو له طرفه، د ارزښت وړ جایداد، مالي خدمتونو او مرستې د زیان سره مخ شوي، او نور مالي زیانونه یې لیدلي دي .

81. د مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده د غلط چلند په وجه، چې هر یو یې ځان ته او په شریکه او ملګرتیا ترسره کړی، مدعیانو، چې د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه اقدام کوي، ته عمدي درد، غم، شدیده عاطفي پریشاني او مرګ رسېدلی، او د مالي

او اقتصادي زيان، د مرستي له زيان، د پالني له زيان، له پاملرني او لارښووني، خفګان، فکرمندی، د خدمتونو له زيان، د ټولني له زيان، او له نورو روحي او فزيکي زيانونو سره مخ شوي دي.

82. مدعيان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعيانو د مرحومينو، له طرفه غوښتنه کوي چي د مدافع ايران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده، د هر يو په خلاف ځان ته ځان ته او په شريکه او ملګرتيا قضاوت وکړل شي، په ګډون د زيانونو د درې چنده معاوضي په تعقيب د 18 U.S.C. § 1964(c)، د معاوضي او اصلي زيانونه، د ځارنوالانو معقول فيسونه، له قضاوت مخکي ګټه، وروسته-ګټه، لګښتونه، او د 200,000,000.00$ څخه لوړ اصلي او معاوضتي بدل لپاره، درې چنده زيات 600,000,000.00$، په ګډون د ځارنوالانو د فيسونو او لګښتونو، او داسي نورې معاوضي څنګه چي د محکمي لخوا انصاف او مناسب وګڼل شي.

<u>**د مرستي پنځمه دعوه**</u>

**(28 U.S.C. § 1605A (FSIA ته د تروريزم استثنی) - (مدافع ايران، مدافع خامنه اي، مدافع احمدي نژاد، مدافع IRGC))**

83. مدعيان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعيانو د مرحومينو، له طرفه د دې شکايت ټول له پراګراف 1 څخه تر 83 مخکيني تورونه د هماغه قوت او اغيز سره بيا تکراروي او لګوي، لکه څنګه چي دلته بيا په بشپړ تفصيل سره تشريح شوي دي .

84. د مدعيانو د مرحومينو، څوک چي په ټولو مادي وختونو کي د مرګ په وخت د متحده اياالتو اتباع وو، مرګ د غير عدالتي قتل او د الوتکي د تخريب نتيجه وه .

85. دا د غير عدالتي قتل او د الوتکي د تخريب اقدامات د مدافع طالبانو او مدافع القاعده لخوا ترسره شوي، کومو چي له مدافع ايران، مدافع خامنه اي، مدافع احمدي نژاد او مدافع IRGC مالي مرسته او سرچيني ترلاسه کړې وې .

86. د مدافع ايران، مدافع خامنه اي، مدافع احمدي نژاد، او مدافع IRGC اجنټانو، چارواکيو او مامورينو مدافع طالبانو او مدافع القاعده ته په داسي حال کي مالي مرستې او سرچيني برابرې کړي چي د خپلو دفترونو، ادارو او وظيفي په دايره کي يي کار کاوه. دغه ډول چلند، که چيرې د متحده اياالتو د اجنټانو، چارواکيو يا مامورينو لخوا ترسره شي، به د دې وړ وي چي اقدام پرې وشي .

87. مدافع ایران او اجنټان او سازمانونه یې، مدافع خامنه اي، مدافع احمدي نژاد، او مدافع IRGC د 2011 د اګست په 6مه د Extortion 17 د ویشتل کېدو او غورځول کېدو پر مهال د متحده ایالاتو د حکومت لخوا د تروریزم ریاستي سرپرستان نومول شوي وو.

88. د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، او مدافع IRGC د غلط چلند په وجه، چې هر یو یې ځان ځان ته او په شریکه او ملګرتیا ترسره کړی، مدعیانو، چې د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه اقدام کوي، ته عمدي درد، غم، شدیده عاطفي پریشاني او مرګ رسېدلی، او د مالي او اقتصادي زیان، د مرستې له زیان، د پالنې له زیان، له پاملرنې او لارښوونې، خفګان، فکرمندی، د خدمتونو له زیان، د ټولنې له زیان، او له نورو روحي او فزیکي زیانونو سره مخ شوي دي.

89. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه غوښتنه کوي چې د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده په خلاف په شریکه او ملګرتیا قضاوت وکړل شي، په ګډون د معاوضتي او اصلي تاوانونو د ورکولو، د سزا د زیانونو، د څارنوالانو د معقولو فیسونو، د مخکې له قضاوت ګټو، وروسته-ګټې، لګښتونو، او د $200,000,000.00 تر اندازې د ورکولو، او داسې نورې معاوضې څنګه چې د محکمې لخوا ښایې انصاف او مناسب ګڼل کیږي .

**<u>د مرستې شپږمه دعوه</u>**

**(برید او د برید درکې - هر یو مدافع)**

90. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه د دې شکایت ټول له پراګراف 1 څخه تر 90 مخکیني تورونه د هماغه قوت او اغیز سره بیا تکراروي او لګوي، لکه څنګه چې دلته بیا په بشپړ تفصیل سره تشریح شوي دي.

91. د 2011 د اګست په 6مه د Extortion 17 د ویشتلو او راغورځولو په نتیجه کې مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبان، او مدافع القاعده، یو بل سره ملګرتیا په عمل کې، د مدعیانو مرحومین د یوې نږدې زیان رسوونکې جارحانه وضعې سره مخ کړل، او د زیان رسوونکې، جارحانه جسماني برید سره مخ شول، د کوم په وجه چې د

مدعیانو مرحومین بالاخره مړه شول. دلته د جارحانه برید د منځته راوړلو ارادې د SEAL د شپږم ټیم د غړو او د ځانګړو عملیاتو د نورو پوځیانو د مرګ نتیجه ورکړه .

92. د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده د غلط چلند په وجه، چې هر یو یې ځان ځان ته او په شریکه او ملګرتیا ترسره کړی، مدعیان او د مدعیانو مرحومین د عمدي درد، غم، شدیدې عاطفي پریشاني او د نږدې ځاني زخم یا مرګ د ډار سره مخ شول، او د مالي او اقتصادي زیان، د مرستې له زیان، د پالنې له زیان، له پاملرنې او لارښوونې، خفګان، فکرمندی، د خدمتونو له زیان، د ټولنې له زیان، او له نورو روحي او فزیکي زیانونو سره مخ شوي دي.

93. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه غوښتنه کوي چې د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده په خلاف په شریکه او ملګرتیا قضاوت وکړل شي، په ګډون د معاوضتي او اصلي تاوانونو د ورکولو، د سزا د زیانونو، د څارنوالانو د معقولو فیسونو، د مخکې له قضاوت ګټو، وروسته-ګټې، لګښتونو، او د $200,000,000.00 تر اندازې د ورکولو، او داسې نورې معاوضې څنګه چې د محکمې لخوا ښایي انصاف او مناسب ګڼل کیږي.

## د مرستې اوومه دعوه

**(په ارادي ډول د عاطفي پرېشانی رسول ـ د مدافعینو څخه هر یو یې)**

94. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه د دې شکایت ټول له پراګراف 1 څخه تر 94 مخکیني تورونه د هماغه قوت او اغیز سره بیا تکراروي او لګوي، لکه څنګه چې دلته بیا په بشپړ تفصیل سره تشریح شوي دي.

95. د 2011 د اګست په 6مه د Extortion 17 ارادتاً ویشتل او راغورځول د یو داسې ارادي، سخت او غوصه پاروونکي چلند نتیجه وه چې د شرافت د ټولو حدونو نه اوښتی دی .

96. مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزی، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده ته معلومه وه چي د Extortion 17، کوم چې د متحده ایالاتو د پوځ تر ټولو لوړ امتیازي جنګیالي وړل، قصدي ویشتل به پکي سپرو دیرشو (30) امریکایانو ته شدید عاطفي درد ورسوي، په ګډون د مدعیانو د مرحومینو او په دې توګه مدعیانو ته، او مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده نیت لرلو چې دې بې ګناه اتلانو ته شدید عاطفي غم او ذهني درد ورسوي.

97. مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده ته دا هم معلومه وه او یا ورته باید معلومه وی چې د هغه بې ګناه کسانو چې په Chinook-47D کې دننه ګېړ کړی شوي وو او وروسته د تروروستانو، تروروستي سازمانونو او آن تر دې چې د هغو کسانو چې ظاهراً یې د مدعیانو د مرحومینو سره د شریکولو په توګه کار کاوه په لاس وژل شوي وو د کورنیو غړي به د خپلو بچو د قتل په نتیجه کې د شدید عاطفي غم او ذهني درد سره مخ کېږي. مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، او مدافع ANSF د متحده ایالاتو پوځیانو ته مناسب تحفظ نه دی رسولی او د دغه کافي تحفظ نشتوالی بې له شکه د هغوی د مرګ د سبب برخه ده .

98. برسېره پر دې، د مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، او مدافع ANSF دا عمل غوصه پاروونکی و چې دوی، یو بل سره په ملګرتیا کې، د وژل شوو Navy SEALs او د ځانګړو عملیاتو د نورو پوځیانو د وړلو غوندې ته یو اسلامي عالم - غالباً یو افغان قوماندان - وربللی و، کوم چې د مدعیانو د مرحومینو یادښت ته هغوی ته په کافر ویلو او دوزخ ته د تګ په ښیرو کولو سپکاوی وکړ .

99. د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده د غلط چلند په وجه، چې هر یو یې ځان ځان ته او په شریکه او ملګرتیا ترسره کړی، مدعیانو او د مدعیانو مرحومینو ته عمدي درد، تکلیف او مرګ رسېدلی او د مالي او اقتصادي زیان، د مرستې له زیان، د پالنې له زیان، له پاملرنې او لارښوونې، خفګان، فکرمندی، د خدمتونو له زیان، د ټولنې له زیان، او له نورو روحي او فزیکي زیانونو سره مخ شوي دي.

100. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه غوښتنه کوي چې د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده د هر یو او ټولو په خلاف په شریکه او ملګرتیا قضاوت وکړل شي، په ګډون د معاوضتي او اصلي تاوانونو د ورکولو، د سزا د زیانونو، د څارنوالانو د معقولو فیسونو، د مخکې له قضاوت ګټو، وروسته-ګټې، لګښتونو، او د $200,000,000.00 تر اندازې د ورکولو، او داسې نورې معاوضې څنګه چې د محکمې لخوا ښایي انصاف او مناسب ګڼل کیږي.

## د مرستې اتمه دعوه

## (غلط مرګ - هر یو مدافع )

101. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه د دې شکایت ټول له پراګراف 1 څخه تر 101 مخکیني تورونه د همغه قوت او اغیز سره بیا تکراروي او لګوي، لکه څنګه چې دلته بیا په بشپړ تفصیل سره تشریح شوي دي .

102. مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزی، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبان، او مدافع القاعده، هر یو یې ځان ځان ته او په شریکه او ملګرتیا، د متحده ایالاتو د Navy SEAL د شپږم ټیم د هغو غړو او د ځانګړو عملیاتو د نورو پوځیانو د مرګ مسوولیت لرلو کوم چې د 2011 د اګست په 6مه د هلیکوپټر په برید کې وژل شوي وو، په ګډون خو تر دې محدود نه د مدعیانو د مرحومینو میکایل سټرینج، پیټرک همبرګر او جان ډوانګدارا .

103. د مدعیانو د مرحومینو مرګ د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو او مدافع القاعده لخوا د غفلت او یا غیر قانوني اقداماتو نتیجه وه.

104. د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده د غلط چلند په وجه، چې هر یو یې ځان ځان ته او په شریکه او ملګرتیا ترسره کړی، مدعیانو، چې د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه

دي، ته عمدي درد، غم، شدیده عاطفي پریشاني او مرګ رسېدلی، او د مالي او اقتصادي زیان، د مرستې له زیان، د پالنې له زیان، له پاملرنې او لارښوونې، خفګان، فکرمندی، د خدمتونو له زیان، د ټولنې له زیان، او له نورو روحي او فزیکي زیانونو سره مخ شوي دي.

105. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه غوښتنه کوي چې د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده د هر یو او ټولو په خلاف په شریکه او ملګرتیا قضاوت وکړل شي، په ګډون د معاوضتي او اصلي تاوانونو د ورکولو، د سزا د زیانونو، د څارنوالانو د معقولو فیسونو، د مخکې له قضاوت ګټو، وروسته-ګټې، لګښتونو، د $200,000,000.00 تر اندازې د ورکولو، او داسې نورې معاوضې څنګه چې د محکمې لخوا ښایي انصاف او مناسب ګڼل کیږي.

**<u>د مرستې نهمه دعوه</u>**

**(غفلت - مدافعان کرزی، OCG، ASOU، ANSF، افغانستان)**

106. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه د دې شکایت ټول له پراګراف 1 څخه تر 106 مخکیني تورونه د هماغه قوت او اغیز سره بیا تکراروي او لګوي، لکه څنګه چې دلته بیا په بشپړ تفصیل سره تشریح شوي دي .

107. مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، او مدافع افغانستان مسوولیت درلود چې د مدعیانو د مرحومینو Navy SEAL شپږم ټیم او د ځانګړو عملیاتو د نورو پوځیانو په اړه یې معقول اقدام وکړي او له لازم احتیاطه کار واخلي ځکه چې متحده ایالات او مدافع افغانستان، په ګډون د مدافع افغانستان د مشر، مدافع حامد کرزي، او د افغانستان د نظامي پرسونل، مدافع OCG، ASOU، او ANSF ظاهراً خطر ته د غبرګون لپاره شریک کار کوي، تر څو نړیواله سوله او امنیت وده وکړي او افغانانو سره د یو خوندي، دموکراتیک او سوکاله راتلونکي په جوړولو کې مرسته وشي. د متحده ایالاتو او مدافع افغانستان او مدافع کرزي تر منځ د شریکوالی ګڼ شمېر موافقې او یاداښتونه موجود دي په کومو کې چې د دوی د تعلق نوعیت تشریح شوی دی او د یو بل په وړاندې یې یو داسې د وفادارۍ مسوولیت جوړ کړی دی چې د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي،

مدافع IRGC، مدافع طالبانو او مدافع القاعده خلاف د یو بل دفاع وکړي او د یو بل د نظامي کارکوونکو تحفظ وکړي.

108. مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، او مدافع افغانستان هغه وخت د احتیاط دغه فرض مات کړی دی کله چې یې د مدعیانو د مرحومینو پرته له مناسب فکر، پلان، تجهیزاتو، هوایي مرستې، مخکې له بریده وسلې، مصلحت نه کوونکو افغان کوماندو او مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع طالبانو او مدافع القاعده د تروریستي اعمالو په وړاندې د ځان د دفاع لپاره نورو وسیلو پرته په غفلت جګړې ته د لیږلو عمل ترسره کړی او د دغې چارې واک ورکړی و.

109. د Navy SEAL د شپږم ټیم او ځانګړو عملیاتو د پوځیانو د مرګ سبب نیغ په نیغه او بلاواسطه د مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، او مدافع افغانستان غافلانه اقدامات دي.

110. د مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSFاو مدافع افغانستان د غلط چلند په وجه، چې هر یو یې ځان ځان ته او په شریکه او ملګرتیا ترسره کړی، مدعیانو، چې د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه اقدام کوي، ته عمدي درد، تکلیف او درد رسېدلی او د مالي او اقتصادي زیان، د مرستې له زیان، د پالنې له زیان، له پاملرنې او لارښوونې، خفګان، فکرمندۍ، د خدمتونو له زیان، د ټولنې له زیان، او له نورو روحي او فزیکي زیانونو سره مخ شوي دي.

111. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه غوښتنه کوي چې د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، او مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده په خلاف په شریکه او ملګرتیا قضاوت وکړل شي، په کډون د معاوضتي او اصلي تاوانونو د ورکولو، د سزا د زیانونو، د څارنوالانو د معقولو فیسونو، د مخکې له قضاوت ګټو، وروسته-ګټې، لګښتونو، او د 200,000,000.00$ تر اندازې د ورکولو، او داسې نورې معاوضې څنګه چې د محکمې لخوا ښایي انصاف او مناسب وګڼل شي .

## د مرستې لسمه دعوه

**(بیهوده غفلت ـ مدافعان کرزی، OCG، ASOU، ANSF، افغانستان)**

112. مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه د دې شکایت ټول له پراګراف 1 څخه تر 112 مخکیني تورونه د هماغه قوت او اغیز سره بیا تکراروي او لګوي، لکه څنګه چې دلته بیا په بشپړ تفصیل سره تشریح شوي دي.

113. د مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF او مدافع افغانستان اعمال نه یوازې په دغسي یا ورته شرایطو کې د یو معقول تن د احتیاط د معیار څخه ټیټ دي، بلکې بې پروا هم دي .

114. د مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF او مدافع افغانستان د متحده ایالاتو د پوځیانو په وړاندې د چا سره چې هغوی ظاهراً د شریکوالو په توګه کار کوي یو مسوولیت لرلو. مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، او مدافع افغانستان هغه وخت دغه فرض مات کړی دی کله چې یې په بې پروایی د مدعیانو د مرحومینو پرته له مناسب فکر، پلان، تجهیزاتو، هوایي مرستې، مخکې له بریده وسلې، مصلحت نه کوونکو افغان کوماندو او د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع طالبانو او مدافع القاعده د ترورستي اعمالو په وړاندې د ځان د دفاع لپاره نورو وسیلو پرته جګړې ته د لیږلو عمل ترسره کړی او د دغې چارې واک ورکړی و.

115. د Navy SEAL د شپږم ټیم او ځانګړو عملیاتو د پوځیانو د مرګ سبب نیغ په نیغه او بلاواسطه د مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، او مدافع افغانستان بې پروایی اقدامات دي.

116. د مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، او مدافع افغانستان د غلط چلند په وجه، چې هر یو یې ځان ځان ته او په شریکه او ملګرتیا ترسره کړی، مدعیانو، چې د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه اقدام کوي، ته عمدي درد، تکلیف، شدیده عاطفي پریشاني او مرګ رسېدلی، او د مالي او اقتصادي زیان، د مرستې له زیان، د پالنې له زیان، له پاملرنې او لارښوونې، خفګان، فکرمندی، د خدمتونو له زیان، د ټولنې له زیان، او له نورو روحي او فزیکي زیانونو سره مخ شوي دي.

117. مدعیان غوښتنه کوي چې د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع

OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده د هر یو او ټولو په خلاف په شریکه او ملګرتیا قضاوت وکړل شي، په ګډون د معاوضتي او اصلي تاوانونو د ورکولو، د سزا د زیانونو، د ځارنوالانو د معقولو فیسونو، د مخکي له قضاوت ګټو، وروسته-ګټي، لګښتونو، د $200,000,000.00 تر اندازې د ورکولو، او داسي نورې معاوضي څنګه چي د محکمي لخوا ښايي انصاف او مناسب وګڼل شي .

## د مرستي لپاره غوښتنه

مدعیان، د خپلو ځانونو او د خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه غوښتنه کوي چي د مدافع ایران، مدافع احمدي نژاد، مدافع خامنه اي، مدافع IRGC، مدافع کرزي، مدافع OCG، مدافع ASOU، مدافع ANSF، مدافع افغانستان، مدافع طالبانو، او مدافع القاعده د هر یو او ټولو په خلاف په شریکه مدعیانو او د مدعیانو مرحومینو ته د واضح فزیکي او عاطفي زیان د رسولو په خاطر د معاوضتي او اصلي زیانونو، د مدافعینو د بي رحمانه او بي پروا خودسرۍ او بدنیتي د اعمالو په خاطر د سزا د زیانونو، او د ځارنوالانو د فیسونو، لګښتونو، او یو د $200,000,000.00 یا $600,000,000.00 څخه زیات معاوضي یا درې چنده زیات زیان قضاوت وشي څنګه چي مناسبه وي، او داسي نورې معاوضي څنګه چي د محکمي لخوا ښايي انصاف او مناسب ګڼل کیږي.

**د قضائی پلاوي غوښتنه**

مدعیان، د خپلو ځانونو او خپلو ځامنو، د مدعیانو د مرحومینو، له طرفه په احترام سره په هغو ټولو مسلو د قضا د

یوې محاکمې عرض کوي کومې چې په دې توګه د محاکمې وړ وي .

نیټه: 18 مارچ 2014

په احترام سره وسپارل شو،

لاري کلیمن *(/s/ Larry Klayman)*
جناب لاري کلیمن (Larry Klayman, Esq.)
Washington, D.C. Bar No. 334581
Freedom Watch, Inc.
2020 Pennsylvania Avenue N.W.
Suite 345
Washington, D.C. 20006
(310) 595-0800
leklayman@gmail.com

د مدعیانو لپاره وکیل، د هغوی د خپلو ځانونو او د
مدعیانو د مرحومینو له طرفه.